سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول نضر الله امرأ سمع منا شيئا فبلغه كما سمعه، مرقات ج ۱ ص ۴۴۲

ابن مسعود ﷺ فرمايي چي ما دنبي كريم ﷺ څخه اوريدلي دي چي ده مبارك فرمايل چي الله ﷻ دي هغه شخص منور و گرځوي كوم چي زما څخه خبره واوري او پر هغه طريقه يې (نورو ته) ورسوي .

حضرت نبي كريم ﷺ فرمايلي دي :

كوم سړى چي زما وامت ته دفائدې رسولو په خاطر د امر دين

څلو ېښت احاديثه

په ياد كړي نو الله تعالى ﷻ به هغه د قيامت په ورځ فقيه را پورته كوي او دقيامت په ورځ زه دده شفاعت كونكى او (د ده پر طاعاتو باندي) شاهد گرځم .

Ketabton.com

تأليف

مولوي احمد گل كندهاري

فاضل تخصص علامه بنوري ټاون كراچي

ناشر

اشرفيه مدرسه لومړى ناحيه كندهار

موبائل نمبر ۰۷۰۰۳۰۸۶۵۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب پېژندنه

د کتاب نوم : څلويښت احــاديثه

د کتاب مؤلف : مفتي احمدگل کندهاري

فاضل تخصص علامه بنوري تاون

تصحيح کونکی : مولوي محمدرسول صاحب

کمپوز : محمدرسول سعيد

۰۳۰۰۳۸۹۰۲۹۸ (۰۰۹۲)

تعداد : ۱۰۰۰ عدد

چاپ : لومړی ځل چاپ

ناشر : جامعه اسلاميه اشرفيه

لومړی ناحيه کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نوموړي کتاب فهرست

شمیر	مضمون	صفحه
۱	د اعمالو دار ومدار پر نیتو باندي دي	۱
۲	د انسان فضیلت پر نورو باندي په تقوی او عمل صالح سره دی	۴
۳	د سنت مقدسه اتباع لازمه ده	۷
۴	د بدعت څخه ځان ساتل	۱۰
۵	توبه گناه محوه کوي	۱۴
۶	د بدو څخه راګرځول	۱۶
۷	د الله ﷻ رضا مندي د مور وپلار په رضامندي کي ده	۱۹
۸	د اولاد حق پر مور وپلار باندي	۲۲
۹	د ښو خلګو ناسته	۲۴
۱۰	د يوه مؤمن پر بل مؤمن حقوق	۲۷
۱۱	د يو مسلمان د بل مسلمان څخه تر درو ورځو زيات اړيکي شکول جواز نه لري :	۳۱
۱۲	رحم پر مؤمنانو باندي	۳۴
۱۳	پر ښځو باندي ترحم کول	۳۶
۱۴	د نکاح فضیلت	۳۹
۱۵	ږيره پرېښودل	۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفحه	مضمون	شمیر
۴۳	د حلال رزق کوښښ کول	۱۶
۴۵	سلام اچول	۱۷
۴۸	غیبت سخته گناه ده	۱۸
۵۲	د ظلم څخه ځان ساتل	۱۹
۵۳	ځان ساتل د حسد ، بغض،بدگمانۍ وغیره څخه	۲۰
۵۶	د بخل بد والی	۲۱
۵۸	د دنیا محبت	۲۲
۶۰	د مسلمان خطا ایستل	۲۳
۶۲	د جمعې دلمانځه پرېښودونکی منافق دی	۲۴
۶۳	د عکسو دفع کول	۲۵
۶۵	مرگ د هغه چا چي د جهاد تمنی یې هم نه وي کړې	۲۶
۶۷	د درود شریف فضیلت	۲۷
۶۹	فضیلت د طلب علم	۲۸
۷۱	د جماعت دلمانځه فضیلت	۲۹
۷۳	د خیرات او صدقې فضیلت	۳۰
۷۵	د مسجد تعظیم	۳۱
۷۷	د قرآنکریم فضیلت	۳۲
۸۰	د تقوا داره عالم فضیلت .	۳۳
۸۳	د خلگو په خاطر د الله ﷻ نافرماني جائز نه ده	۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمیر	مضمون	صفحه
۳۵	ژوند یو لوی نعمت دی بې طاعاتو ضائع نسي	۸۵
۳۶	د نیوي عذابونه د مؤمن لپاره رحمت دي	۸۷
۳۷	د اعمال صالحوو طرفته سبقت وکړئ ځکه دفتنو څخه د خلاصیدو یو لوی سبب دی	۸۹
۳۸	قیامت ته نږدې به پر دین عمل کولو والا داسي په تکلیف وي لکه د اور سکروټي چي یې په لاس کي وي	۹۱
۳۹	د نبي کریم ﷺ مهم وصیتونه	۹۳
۴۰	د ذکر او ذاکر فضائل	۹۶
۴۱	د ذکر متعلق د حضرت امام رباني شیخ احمد فاروقي رحمه الله مبارك وینا :	۹۹
۴۲	د حضرت مولانا جلال الدین رومي رح رایه :	۱۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۱﴾ د اعمالو دار ومدار پر نیتو باندي دي :

﴿ إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ ﴾ [1]

ترجمه : د ټولو کارو اعتبار په نیتو سره دی، یعني د عمل ثمره او اعتبار په نیت سره دی .

لغات : أَعْمَالٌ جمع دعمل ده، او عمل کار ته ویل کیږي .

نِيَاتٌ : جمع دنِيَةٌ، د زړه قصد او ارادې ته ویل کیږي .

فضیلت : امام شافعي رح دا حدیث دعلم دریمه حصه بولي وجه داچي اعمال پر درې قسمه دی : د زړه عمل، د ژبې عمل او د اعضاوو عمل .[2]

علامه ابن دقیق العید فرماي چي داحدیث علماؤو په ثلث الاسلام سره ملقب کړی دی .[3]

صاحب ابوداؤد سلیمان ابن اشعث ستیجستاني رح نصف فقه بللی دی .[4] حضرت امام صاحب رح داحدیث شریف څلورمه د علم بللی دی .

---

[1] عَنْ اَمیر المؤمنین اَبِي حفص عُمَر بن الخَطاَب ﷺ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ لاَ اِنَّمَاالاَعْمَالُ....... الخ . رواه شیخین.

[2] فتح البَاري ،مرقات ج ١ صـ ٤٢.

[3] فتح الباري ج ١ صـ ١٠.

[4] فتح الباري ج ١ صـ١١.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرحمان بن مهدي رح فرمايې چي څوك دكتاب د تصنيف اراده وکړي هغه شخص دي په دغه حديث سره شروع کوي.

دگناه کار په نيت سره نه سميږي.

عبادتونه دوه قسمه دي : (۱) مقصودي عبادتونه لکه کلمه ، لمونځ، روژه، حج او زکات ددغه مقاصدو اصل صحت پر نيت باندي موقوفه دی . (۲) هغه عبادتونه چي د بل عبادت لپاره واسطه وي لکه اودس، پوټيده دعورت او داسي نور، ددغه اعمالو ثواب په نيت سره زياتيږي اصل صحت يې په نيت پوري نه دی تړلی .

په يوه عمل کښي ډير نيتونه کيدلای سي پرنيت باندي يې ثواب دی لکه نکاح : نيت داتباع سنت، نيت د اولاد صالح، نيت دځان دپاکدامنۍ وغيره پر نيت باندي ثواب سته .

د حديث د راوي مختصر حالات (خليفه راشد) :

د حديث راوي حضرت عمر بن خطاب ﷺ دی، کنيت يې ابوحفص دی نسبا قريشي دی، تر ۴ناريښوو او ۱۱ ښځو وروسته دنبي کريم ﷺ د دعاء په برکت په اسلام مشرف سوی دی، حضرت ابوبکر صديق ﷺ په خپل ژوند کښي دی مبارك خليفه گرځولی دی . د حضرت مغيره غلام ابولؤلؤ د چهارشنبې په ورځ ۲۶ذوالحجه ۲۳ه په مدينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منوره کي دسهار دلمانځه تر مخه دی مبارك په خنجر ووهی او په اول محرم باندي ده مبارك ددنیا څخه سترګي پټي کړې، دده مبارك عمر ۶۳کاله وو، د خلافت موده يې لس کاله شپږ مياشتي وه ، حضرت صهيب ﷺ د جنازې لمونځ ورکړی او دنبي کريم ﷺ په حجره مبارکه کي دفن دی .

روايات احاديث دده مبارك څخه ۵۳۹ دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۲﴾ د انسان فضیلت پر نورو باندي په تقوی او عمل صالح سره دی :

﴿ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ لَهُ اِنَّكَ لَسْتَ بِخَيْرٍ مِّنْ اَحْمَرَ وَلاَ اَسْوَدَ اِلاَّ اَنْ تَفْضُلَهُ بِتَقْوٰى[1] . ﴾

ترجمه : نبي کریم ﷺ و ابوذرغفاري رضي الله عنه ته وفرمایل چي ته نه يې بهتره پر سره رنګ والا (انسان) باندي او نه پر تور رنګ والا (انسان) باندي ،مګر دا چي ته بهتري پیدا کړې (پر بل انسان باندي) په تقوا سره .

لغات : اَحْمَرُ: سور رنګ ته وايې جمع يې اَحَامِرْده، او مؤنث يې حُمْرَاء ده .

اَسْوَدَ: دباب (س) شخه تورسوی مؤنث يې سُوْدَاء ده.

تَفْضُلَه : د باب (س) شخه باقي پاتيدل، د باب (ن) شخه بهتره کیدل.

بِتَقْوٰی: د الله ﷻ له خوفه دهغه دفرمان موافق عمل کوي .

تشریح : په حدیث مقدسه کي یو قانون ذکر دی چي دانسان فضیلت پر ظاهري شکل وصورت باندي نه دی بلکه د

---

[1] مشکوة ج ۲ صـ ۴۴۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فضیلت مدار پر دیني اخلاقو ،عمل صالح او تقوا سره دی ، په یو حدیث[1] کي ذکر دي چي عمل صالح او تقوی نه لري په نسب سره مخته نسي تللای چي فلان سید دی، فلان قریشي دي، البته وروسته تر عمل صالح او تقوی بیا په نسب سره ډیر مخته ځي ځکه چي بنیاد یې طلایې دی .

د تقوی درې مرتبې دي :

(۱) کمه مرتبه دتقوا داده چي د کفر او شرك څخه ځان وساتي .

(۲) میانه مرتبه د تقوی داده چي دگناه څخه دمنهیاتو څخه د شریعت مقدسه ځان ساتي .

(۳) اعلی او افضله مرتبه د تقوی داده چي د ذات الهي جل وعلا سره همیشه حضور لري . او دغیر الله څخه فارغه وي یعني فکر یې په غیر الله سره نه وي بند .[2]

حالات مختصره ابو ذر ﷺ :

نوم یې جندب، ابوذر یې کنیت او مسیح الاسلام یې لقب وو، په اول کي داسلام په مکه مکرمه کي یې اسلام راوړی دی، واقعه داسلام یې مشهوره ده په آخر د عمر کي یې رویښتان ټوله سپین سول، د غزوه خندق وروسته یې ټوله عمر د نبي کریم ﷺ په خدمت

---

[1] مشکوة ج ۱ صـ ۲۲.

[2] مرقات ج ۹ صـ ۳۹۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې تیر کړی دی، تر مخه په قبیله غفار کښې وو ، حضرت ابوذر ﷺ فقیر،زاهد او تاریك دنیا وو او ډیري دردناکي واقعې یې دي ، دحضرت عثمان ﷺ په امر ده خپله مقام زبده اختیار کي هلته یواځي وو یوه کور والا ورسره وه، تر وفات وروسته یوه یمني قافله را روانه وه او په هغه قافله کي حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ وو هغه راغلی د غسل،جنازې او دفن کارونه یې ور دسره کړه ، د احادیثو روایتونه دده مبارك څخه ۲۸۱دي .

❀❀❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۳﴾ د سنت مقدسه اتباع لازمه ده .

﴿ مَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ ﴾ [1]

ترجمه : کوم چا چي زما د طريقې څخه اعراض (سرغړونه) وکړه هغه زما څخه نه دی .

لغات : رَغِبَ د باب (س) څخه رُغْبَةٌ عَنْهُ، اعراض کول، رُغْبَةٌ فِيْه ، خوښول .

سُنَّتِيْ : خصلت، عادت، طبيعت ، جمع يې سُنَنٌ راځي .

تشريح : شريعت مقدسه د ذات الهي ﷻ او دنبي کريم ﷺ د حکم وروسته هيڅ قسم اختيار مؤمن ته نه دی ورکړی بلکه د الله جل جلاله او د نبي کريم ﷺ د حکم نه منلو په صورت کي نافرمانه او اعراض کونکی دی چي دا روګرداني سبب د ګمراهي ګرځي ، البته اعراض بيا فرق لري د فرضو څخه اعراض، دواجب څخه اعراض، دسنت مؤکده څخه اعراض، بيا دا اعراض دوه قسمه دی يو دادی چي انکار لري بل انکار نه لري عمل نه پر کوي تفصيل يې دادی : د فرض منکر کافر دی، دواجب او سنت مؤکده منکر فاسق دی او بيره د کفر پر سته، که د فرض

---

[1] مشکوة ج ۱ صـ ۲۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انکار نه وي عملي يې ترك کړی وي دې ته فاسق وايي او بيره د کفر پر سته لکه لمونځ نه کونکی ، دواجب تارك فاسق دی د سنت مؤکده تارك د نبي عليه السلام د شفاعت څخه دمحرومی مستحق ګرځي او حرام قطعي ته نږدې عمل دی .[1]

حاصل دا چې اعراض د نبي کريم ﷺ د سنتو څخه سبب دګمراهی دی يا ډيره ګمراهي يالر. الله ﷻ دي ټولو مسلمانانو ته اتباع دسنت نصيب کړي . آمين .

حالات راوي حضرت انس ؓ :

انس يې نوم او ابو همزه يې کنيت دی،دپلار نوم يې ابوطلحه دی، لس کاله يې دنبي کريم ﷺ خدمت کړی دی تر لس کاله تر مخه پيدا سوی دی، نبي کريم ﷺ چې مديني منورې ته تشريف راوړی دده عمر لس کاله وو ابوطلحه ؓ نبي کريم ﷺ ته دخدمت لپاره پيش کړي او نبي کريم ﷺ قبول کړی ، حضرت ابوبکر صديق ؓ دی د بحرين عامل مقرر کړی . ۱۲۸۶ احاديث دده مبارك څخه نقل سوي دي . نبي کريم ﷺ ده لره د ډير مال،ډير اولاد، او د ډير عمر د دعاء سره دمغفرت دعاء کړې ده ، د اولاد ډير والی يې دومره وو چې ۹۸ اولاده ده مبارك په خپل لاس دفن کړي دي او زراعت اومالداري يې

---

[1] حسامي صـ ۵۹ . حاشية الطحطاوي صـ ۵۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کال کي دوه فصله حاصلات کول اوهمدارنګه يې د اولاد کيفيت وو ، عمر يې هم اوږد وو ، ده مبارك به فرمايل چي دعمر ښخه سترې سوم اوس د مغفرت په اميد يم چي دنبي کريم ﷺ ددعاء اخري جز دی ، حضرت عمر ﷺ دی مبارك بصرې ته د احاديثو او فقهي د معلم په صفت وليږي، په ۱۰۲هجري کال کښي دی مبارك هلته وفات سو او همدی آخري صحابي وو .[1]

⁂⁂⁂⁂⁂

---

[1] روضة الطالبين صـ ۴۸۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۴﴾ د بدعت څخه ځان ساتل :

﴿ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ فَقَدْ اَعَانَ عَلٰى هَدْمِ الإِسْلاَمِ﴾

ترجمه : کوم شخص چي د بدعتي تعظیم وکړی نو په تحقیق سره هغه د اسلام په نړولو کي کومك وکړی .

لغات : وَقَّرَ: د باب تفعیل څخه تعظیم کول .

بِدْعَة : نوی شی، جمع بِدَعٌ ده باب فتح څخه معنی ایجادول بیله نمونې یو شی جوړول .

هَدَمَ : د باب (ض) څخه ماتول نړول .

تعریف بدعت : بدعت په اصطلاح شرح کي هغه کار ته وایې چي په خیر قرون په زمانه کي نه وي او سلف (صحابه، تابعین تبع تابعین) د هغه وطرف ته دعمل کولو لپاره محتاج وي هغو دغه کار نه وي کړی اوس یې یو شخص د ثواب په نیت وکړي دغه عمل ته بدعت وایې لکه نفل لمونځ په جماعت باندي صحابه کرامو نه دی کړی سره د دې چي دوئ و دې ته محتاج وه چي عبادت په ښه طریقه باندي وسي چي ثواب یې ډیر سي ، یا نور نوي کارونه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

. په بدعت دغه تعريف پر صادق وي نو دغه ته بدعت وايې [1]
شرعي کي حسن نسته بلکه هر فرد يې قبيح دی هم دغه قول د
حضرت امام رباني رح دی په دغه مذکوره تعريف سره دانوی
طرز د سکونت اسباب لکه الماری، کوربچې، فرش وغيره
داخو هم د نبي عليه السلام په زمانه کي نه وه اوس سته نو دې
ته بدعت نه وايې ولي د ثواب نيت نسته،همدارنگه وسائل
لکه لمانځه ته په موټر کي تلل وغيره ، همدارنگه قيام
مدارس، فنون صرف نحو وغيره ټوله دبدعت څخه وتلي دي
دغه اعمالو ته بدعت نه ويل کيږي که څه هم د نبي عليه السلام
په زمانه کي نه وه اوس سته او هم د ثواب په نيت دي مگر
دبدعت تعريف نه پر صادقيږي په تعريف کي دبدعت داقيد ؤ
چي دصحابه کرامو ﷺ به ودغه عمل ته ضرورت وو ، او دغه
فنونو وغيره ته ددوئ مبارکانو ضرورت نه وو ځکه دي ته
بدعت نه وايي که څه هم دثواب په نيت وي .
نو دهر عمل چي دبدعت تعريف صادق سي دغه عمل ته بدعت
ويل کيږي او دغه سړی ته بدعتي ويل کيږي مثال لکه په
بعضو ځايو کي تر اذان دمخه او وروسته په زوره اواز
صلاتونه ويل، او همدارنگه په هر ملك کي مختلف بدعتونه

---

[1] توضيحات شرح مشکوة ج ۱ صـ ۳۶۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي په شریعت مقدسه کي هیڅ اصل نلري ، حق تعالی ﷻ دی توله مسلمانان ددغه ضلالت او گمراهي څخه وساتي .

تشریح : د بدعت کونکي د تعظیم مختلف قسمونه دي مثلا چي دی راسي دده لپاره ولاړ سي یا په مجلس کي یو ښه ځای ورکول یا خدمت یې کول وغیره .[1]

هدم الاسلام : د بدعتي تعظیم د بدعت تعظیم دی او دبدعت په تعظیم کښي دسنت تحقیر دی او دسنت تحقیر داسلام و عمارت ته نقصان دی .[2]

خرابي دبدعت : حضرت امام مالك رح فرمایي چي چا بدعت وکړی نو دی داسي پوهیدلی دی چي نبي کریم ﷺ په رسالت کي (نعوذباالله) غلطي کړې ده (دغه زما عمل ثواب لري ده مبارك نه دی کړی نه یې امر کړی دی) .

بله خرابي د بدعت داده چي بدعتي سړی ددغه عمل څخه توبه نه کاږي ولي دی یې ثواب بولي هغه په شریعت کي هیڅ اصل نه لري ، په یوه روایت کي ذکر دي چي ابلس وویل چي زه خلګ په ګناه هلاك کړم ، دوئ زه په توبه

---

[1] توضیحات شرح مشکوة ج ۱ صـ ۳۶۰.

[2] مرقات شرح مشکوة ج ۱ صـ ۳۹۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلاك کړم وروسته بیا ما په دغسي عمل اخته کړه چي توبه نه کاږي .[1]

بل دا چي : د بدعت په ذریعه سره سنت پاتیږي څکه چي ته کوم کار کوې هم په دغه کار کښي سنت طریقه هم سته هغه ستا څخه پاته سول . الله ﷻ دي مسلمانان د بدعاتو څخه وساتي ، د هر نیك عمل په کولو کي به پوښتنه کوئ چي په شریعت کي اصل لري که یا ؟

❁❁❁❁

---

[1] الترغیب والترهیب .

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۵﴾ توبه ګناه محوه کوي

﴿عَنْ عَبْدِاللهِ بِنْ مَسْعُوْد قَاَلَ : قَالَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اَلتَّائِبُ عَنِ الذَّنْبِ كَمَنْ لاَذَنْبَ لَهُ﴾ [1]

ترجمه دحضرت عبدالله رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول اللهﷺ وفرمايل: توبه کونکی د ګناه څخه داسي دی لکه ګناه چي يې نه وي کړې.

لغات : اَلتَّائِبُ : توبه کونکی، تاب دباب نَصَرَ څخه: متوجه کيدل .

اَلذَنْب :ګناه، جمع د ذُنُوْب ، جمع الجمع يې ذُنُوْبَات.

تشريح : ملا علی قاري رح فرمايي چي بنده دتوبه په ذريعه باندي ذات الهي ﷻ ته رجوع کوي نو د دوو حالاتو څخه به خالي نه وي اول دا چي ګناه بالکل محوه کړي ، دوهم دا چي ثواب ورکول کيږي ليکن که ګناه يې محوه نسي په دواړو صورتو کي ثواب لري . مولانا محمد منظور نعماني رح فرمايي د توبې په ذريعه بنده دالله ﷻ محبوب ګرځي او د ګناهو داغ يې هم ليري کيږي لکه حديث(کَيَوْمِ وَلَدَتْهُ اُمُهُ).

په حديث شريف کي ذکر دی تول بني آدم خطاوي لري ليکن

---

[1] مشکوة ج ١ صـ ٢٠۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهترین خطاکونکی هغه دی چي توبه کونکی وي .[1]

د توبي لپاره شرائط : علامه آلوسي په تفسير روح المعاني کي او شيخ محي الدين ابو ذکريا نووي په شرح مسلم کي د توبي ۳ شرائط ذکر کړي دي :

(۱) د گناه څخه پوره جلا سي .

(۲) پر گناه ندامت قلبي وي ،د زړه د اخلاصه پر دغه گناه پښېمانه وي .

(۳) پوخ عزم يې وي چي بيا داسي گناه نه کوم .

حالات راوي حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ:

نوم يې عبدالله کنيت يې عبدالرحمان دی، مسعود يې د پلار نوم وو، ام عبد يې د مور نوم وو . په اول کي يې چوپاني کول تر يو واقعي وروسته مسلمان سو بيا يې ټوله زندگي د نبي کريم ﷺ په خدمت کي وقف کړه ، يو ځل يې حبشې ته او بيا يې مدينې منورې ته هجرت کړی دی . دی مبارك رئيس مفسرين دی د فقه حنفي دار ومدار دده مبارك پر رواياتو دی . تعداد د حديثو يې ۸۴۸ دی .

عمر مبارك يې تر شپيتو کالو زيات دی په ۳۲هـ کال کي وفات سوی دی، حضرت عثمان ﷺ د جنازې لمونځ ورکړی، دحضرت عثمان بن مظعون ﷺ په بغل کي په جنت البقيع کي دفن سوی دی .

---

[1] مشکوة ج ۱ صـ ۲۰۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۶﴾ د بدو څخه راګرځول :

﴿ مَنْ رَاٰى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَاِن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَاِن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، وَذٰلِكَ اَضْعَفُ الاِيْمَانِ﴾[1]

ترجمه : کوم څوك چي ستاسو څخه يو بد کار ويني نو هغه دي په لاس سره دا بد کار منع کړی، که ده دومره طاقت نه درلودی نو بيا دي يې په ژبه سره منع کړي ، او که يې دومره طاقت هم نه درلودی نو بيا دي يې په زړه کي بد وبولي او دغه (آخري درجه) د ايمان هغه کمزورې درجه ده.

لغات : فَلْيُغَيِّرْه : بدلول .

اَضْعَفُ: ډير کمزور، ضِعَافٌ او ضُعَفَاءُ يې جمع ده.

مُنْكَرٌ : شرعي بد . بيده : په لاس سره .

فبقلبه : په زړه سره .

فبلسانه: په ژبه سره .

تشريح : په دغه حديث شريف کي د ايمان درې درجې ذکر سوي دي :

اول : داچي غلط کار ويني نو په لاس دې منع کوي مګر

---

[1] عن ابي سعيد الخدري ﷺ عن رسول الله ﷺ قال مَنْ رَاٰى مِنكُمْ مُنْكَراً ..... الخ مشکوة ج ۲ صـ ۴۳۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا منع کول شرائط لري هغه دا چي دی به قدرت لري مثلاً د کور مشر، استاذ، آمر وغیره وي .

دوهم : داچي یو غلط کار ووینې په خوله به یې منع کوي لیکن ددغه منع کولو لپاره ٥ شرطونه په فتاوی عالمگیري کي راوړي دي .[1]

دریم : چي یو بد کار ووینې خپله به مخ ځیني اړوي او په زړه کي به بد ځیني وړي که یې په زړه کي هم بد نه ځیني وړل نو دده په ایمان کي شك سته .

حکم دمنع : که حرام کار وو منع یې واجب ده که په شریعت کي یو شی واجب وي امر یې هم واجب دی که سنت وي امر یې هم سنت دی که فرض وي نو امر یې هم فرض دی، مگر دا قانون هغه وخت دی چي دمخاطب څخه ستا دا یقین وي چي دی خبره قبلوي که دا یقین نوو نو بیا یې ویل واجب نه دی بل داچي دا منع هغه وخت واجب ده چي دفتنې او فساد بیره نه وي که د فتنې او فساد احتمال وو نو بیا به نه ورته وایي .

علامه قطب الدین په شرح دمشکوة کي وایې : چي امر په

---

[1] فتاوی عالمگیري باب کراهیة صـ ٣٥٣ ج ٥ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیکو سره کول او د بدو څخه راګرځول یواځي دحاکم کار نه دی بلکه دهر نارینه،ښځینه، او غلام کار دی .[1]

په سورة انفال ۲۵ آیة کي هم وضاحت دی چي دهغه دفتنې څخه ځان وساتئ چي ظالمانو لره خاص ده ، یعني که تاسو د بدو څخه منع ونه کړئ دغه فتنه او مصیبت پر تاسو هم واقع کیږي (که څه هم تاسي صلحاء او نیکان یاست) .

حاصل داچي د بدو په منع کولو کښې به سستي نه کوئ که نه دا نه منع کولو والا هم په عذاب مبتلا کیږي .[2]

په احادیثو مبارکوو کښې بله خرابي د نه منع کولو دا ذکر سوې ده چي کوم عذاب پر ګنهکار راځي هغه عذاب پر نه منع کولو والا باندي هم راځي ، او بیا د دغه نه منع کولو والا دعاء د عذاب د دفع لپاره هم نه قبلیږي .[3]

اول به اصلاح د خپل کور څخه شروع کوئ او خپل کور والا به د بدو څخه راګرځوئ . الله ﷻ دي مسلمانانو ته د ځان، کور او ټولو اصلاح په ښه طریقه ورنصیب کړي .

---

[1] مظاهري ج ۱ صـ ۶۴۷.

[2] سورة الانفال آیة ۲۵.

[3] مرقات ج ۹ صـ ۳۳۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۷﴾ د الله ﷻ رضا مندي د مور وپلار په رضامندي کي ده :

﴿ رِضَى الرَّبِّ فِيْ رِضَى الْوَالِدِ وَ سَخَطُ الرَّبِّ فِيْ سَخَطِ الْوَالِدَ ﴾ [1]

ترجمه : د الله ﷻ رضامندي د پلار په رضا مندي کښې ده او د الله ﷻ ناراضي دپلار په ناراضي کي ده .

لغات : رَضِيَ : خوشحاله کيدل.

سخط : ناراضه کېدل .

سوال : په دغه حديث کښې دپلار ذکر سته دمور ذکر ولي نسته ؟

جواب : په بعضو رواياتو کي ذکر دي چي دمور حق زيات دی د ۳ وجوهاتو پر بناء، لهذا چي دپلار دومره حق وي نو دمور په طريقه اولی پکښې دخل دی ځکه چي هغه زياته حقداره ده .

په فتاوی هنديه کښې راغلي دي چي په احترام اوتعظيم کښې پلار د مخه دی او په خدمت او نعمتو ورکولو کي مور د مخه ده . [1]

---

[1] عن عبدالله بن عمر قال : قال رسول الله ﷺ رضَى الرَّبِّ .... الخ . مشکوة ج ۲ صـ ۴۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په يو حديث شريف كښې ذكر دي چي نبي كريم ﷺ فرمايې : كه يو نيك اولاد مور وپلار ته يا يوائې يوه ته په نظر د رحمت وګوري الله ﷻ ددغه كتلو په وجه د حج مقبول ثواب وركوي ، صحابه كرامو وفرمايل چي كه يو شخص د ورځې سل واري ورته وګوري نو هم دسلو حجو ثواب وركوي؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل : هو ، الله اكبر و اطيب .[2]

په يوه حديث شريف كښې د يو صحابي پر سوال باندي نبي كريم ﷺ وفرمايل چي : هو پس له مرګه هم ستا پر ذمه باندي د مور پلار حق سته :

(۱) د دوئ لپاره دعاء اومغفرت غوښتل .

(۲) دوئ چي دچا سره وعده كړې وي يا يې جائز وصيت كړې وي هغه پوره كول .

(۳) هغه دوستان چي د مور وپلار په واسطه يې قرابت وي د هغو سره صله رحمي كول او د دوئ د شناختوو سره د شريعت په حدودو كي احترام او عزت وركول .[3]

---

1 فتاوى عالمګيري ج ۵ ص ۳۶۵.

[2] مرقات ج ۹ ص ۱۵۹.

[3] مرقات ج ۹ ص ۱۵۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴) نبي کريم ﷺ فرمايي که چا دمور وپلار يا دواړو زيارت د جمعې په ورځ کاوه دغه شخص ته به بخښنه وسي او د الله ﷻ په نزد به په نيکانو کښي حساب سي . حق تعالی ﷻ دي ټولو مسلمانانو ته دمور اوپلار خدمت او احترام ور نصيب کړي. آمين يارب العلمين

د حضرت ابن عمر ؓ مختصر حالات :

نوم يې عبدالله کنيت يې ابو محمد دی، د حضرت عمرؓ مبارک زوی دی تر حضرت عمر ؓ د مخه يې ايمان راوړی دی هميشه به دنبي کريم ﷺ په خدمت کي وو ، دامام احمدؒ د مذهب د احکامو بناء دده مبارک پر اقوالو ده.

په ۶۵ هجري کال کي په تسطاط نامي ځای کي وفات سوی دی، دجنګ په وجه خلګ دباندي نسوای راوتلای ځکه يې دی مبارک په کور کي دفن کړی .

۷۰ احاديث دده مبارک څخه را نقل سوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۸﴾ د اولاد حق پر مور اوپلار باندي :

﴿ مُرُوْا اَوْلَادَكُمْ بِالصَّلٰوةِ وَهُمْ اَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِيْنَ وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ اَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِيْنَ وَ فَرِّقُوْا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ.﴾ [1]

ترجمه : تاسي خپل اولادو ته دلمانځه حکم کوئ کله چي دوئ د اوو کالو وي، او دوئ دلمانځه دنه کولو په سبب وهئ کله چي دوئ دلسو کالو وي ، او په دغه وخت کي د دوئ د پروتي بستريِ سره ورجلا کړي .

لغات : اَبْنَاء: جمع دابَنْ په معنی د زوی.

اَلْمَضَاجِعِ: جمع مَضْجَعْ دخوب ځای. ضجع د فتح څخه پر بغل پریوتل .

تشریح : په شریعت مقدسه کي د اولاد ډیر حقوق پر پلار سته د پیدائش څخه تر بلوغ پوري اولاد مختلف حقوق لري البته دوه حقوق يې ډیر مهم دي اول : د عقیدي جوړول، دوهم : دعبادات ور زده کول. په خاصه توگه دلته په حدیث شریف کي دلمانځه متعلق بیان دی چي کوچنی کله د اوو کالو سي دلمانځه حکم ورته کوئ یعني اول به

---

[1] عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال : قال رسول الله ﷺ مُرُوا اَولَادَكُمْ .... الخ . مشكوة ج ١ صـ ٥٨.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ورزده کوئ بيا به يې جماعت ته بياياست په هغه صورت کې چې دمسجد اداب يې زده وي . او که يې عمر لسو کالو ته ورسيدی بيا يې هم دلمانځه پابندي نه کول نو وهل (دشريعت په حدودو کې) به ورکوي چې تر بلوغ تر مخه دلمانځه عادتي وګرځي، او دغه عادت دجماعت دلمانځه مفسرين فرمايې چې په قبر او حشر کښې د اللهﷻ د عذاب څخه سبب د لوړ خلاصون ګرځي ، او که چيري خدای مه کړه يو پلار د اولاد اوماتحت کوم څوك چې وي دلمانځه اوعقيدې او نورو ديني امورو متعلق پلټنه نه کوي د آخرت په ورځ دده څخه سوال کيږي .

په حديث شريف کې راغلي دي چې (اَلاَ کُلُّکُمْ رَاعٍ الخ) د هر سړي څخه د هغه چاپوښتنه کيږي چې دده تر سرپرستۍ لاندې وي او ددغه کوچني که عقيده خرابه سول يا يې ترك دعباداتو کاوه سبب دخرابۍ يې پلار کيږي ځکه چې ده کوښښ نه دی کړی او که يې کوښښ وکړی ليکن دکوښښ سره اولاد خراب سو بيا پر پلار باندې ګناه اوعذاب نسته ، او داولاد د کوچنی والي حقوق زموږ په رساله (تحسين النکاح) کې بايد وکتل سي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۹﴾ د ښو خلګو ناسته :

﴿ وَالتَّوَدُّدُ اِلَى النَّاسِ نِصْفُ الْعَقْلِ ﴾ [1]

ترجمه : د ښو خلګو سره شناخت کول نیم عقل دی .

لغات : اَلتَّوَدُّدُ: محبت کول، شناخت کول .

اَلنَّاس: خلګ .

اَلْعَقْل : هغه نور چي غیر حسي شی په محسوس سي، عُقُوْل یې جمع ده د ضرب د باب څخه ده معنی عقلمند کیدل .

تشریح : دښو خلګو سره شناخت نیم عقل دی په دې خاطر چي یو ښه مشوره درکوي ددین یا دنیا متعلق او پوره هوښیاري په دنیا کي داده چي سړی د حلال کسب کوښښ کوي چي حلال رزق پیداکړي دا پوره عقل مندي ده او د آخرت لپاره په عبادتو کي د اخلاص کوښښ کوي د اخلاص دوه رکعته عبادت تر زور رکعاتو بې اخلاصه افضل دی .

او همدارنګه په حدیث شریف کښې راغلي دي چي که

---

[1] عن ابن عمر‌ رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ الاقتصاد في النفقة نصف المعيشة والتودد الى الناس نصف العقل وحسن السوال نصف العلم . مشکوة ج ٢ صـ ٤٢٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیري سم صالح همنشینه نوو نو یوازي به ژوند کوي.[1]
ځکه چې بد همنشینه په عرف، عادت اوشریعت کې لوی دتباهۍ سبب دی .

امام غزالي رح فرمایې چې : سړی شناخت د یو چا سره کوي نو دپنځو خبرو مراعت به کوي :

(۱) عقلمند به وي ځکه دبې عقلۍ اثر یې پر ملګري لویږي.
(۲) د ښو اخلاقو خاوند به وي .
(۳) فاسق به نه وي .
(۴) بدعتي به نه وي (چې په دین کې نوي خبري پیداکوي)
(۵) محب د دنیا به نه وي .[2]

حضرت امام فخر الدین رازي رح فرمایې چې هر مجلس تاثیر لري د ۸ قسمه خلګو ناسته ۸ قسمه شیان پیداکوي:

1. د اغنیاؤو سره ناسته حب د دنیا پیداکوي ، هغه اغنیاء چې حب د دنیا لري ځکه حب د دنیا د هري خطا سر دی او په انسان کې ناشکري پیداکوي .
2. د فقراؤو سره ناسته شکر په انسان کې پیداکوي .

---

[1] مشکوة ج ۴صـ ۴۱۴
[2] احیاء العلوم ج ۲ صـ ۲۴۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. د سلطان سره ناسته سختي د زړه،تکبر اومحبت د منصب پيداکوي.
4. د ښځو سره بې اندازې ناسته جهل اوشهوت پرستي پيداکوي.
5. د کوچنيانو سره ناسته په انسان کي بازي اومخسرې پيداکوي.
6. د فاسقينو سره ناسته په انسان کي دلاوري پر گناهو پيداکوي.
7. د علماؤو سره ناسته شوق پر طاعت باندي پيداکوي
8. پر علم باندي دعمل کونکو علماؤو سره ناسته دعلم زياتوالي پيدکوي.[1]

امام رباني رحمه الله فرمايې چي د اولياؤو سره ناسته کبريت احمر دی ، دآخرت ياد او دالله ﷻ سره محبت پيداکوي.حضرت مولانا رومي رح فرمايې :[2]

همنشين اهل معنى باش تا هم عطا يابي وهم باشي فتا

گر تو سنگ صخره مرمر شوي چون بصاحبدل رسي گوهر شوي

---

[1] تفسير کبيرج ۱ صـ ۲۰۱.
[2] مثنوي ج ۱ صـ ۲۶، ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۱۰﴾ د یوه مؤمن پر بل مؤمن حقوق :

﴿ لِلْمُؤْمِنِ عَلَى الْمُؤْمِنِ سِتُّ خِصَالٍ يَعُوْدُهُ إِذَا مَرِضَ وَيَشْهَدُ إِذَا مَاتَ وَ يُجِيْبُهُ إِذَا دَعَاهُ وَيُسَلِّمُ عَلَيْهِ إِذَا لَقِيَهُ وَيُشَمِّتَهُ إِذَا عَطَسَ وَيَنْصَحُ لَهُ إِذَا غَابَ اَوْ شَهِدَ.﴾ [1]

ترجمه : د یو مؤمن پر بل مؤمن باندي شپږ حقه دي :

(۱) کله چي یو مسلمان ناروغ سي بل به یې پوښتنه کوي.

(۲) کله چي مسلمان مړ سي په جنازه کي به یې ګډون کوي.

(۳) کله چي ده ته دمیلمستیا بلنه وسي میلمستیا به قبلوي.

(۴) کله چي یو دبل سره یوځای سي نو سلام به ور اچوي.

(۵) کله چي یو مسلمان و ترچي (او الحمد لله ووایي) د هغه جواب به ورکوي (په یرحمك الله سره). (۶) یو مؤمن به دبل مؤمن خیر خواه وي که دا بل مؤمن حاضر وي که غائب.

لغات : خِصَال : جمع دخَصلَة ده .

يَعُوْدُه : دنَصَرَ دباب څخه معنی پوښتنه دمریض کول.

يَشْهَد : دسَمِعَ دباب څخه معنی حاضریدل ،شاهدي ورکول . دباب مفاعله څخه : لیدل .

---

[1] عن ابي هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ للمؤمن ..... الخ . مشكوة ج ۲ ص ۳۹۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يُجِيبُه : د باب افعال څخه معنی قبول ، جواب ورکول.
دَعَاه: د نصر دباب څخه معنی بلنه .
لَقِيَهُ: د سمع دباب څخه معنی یو ځای کیدل .
يُشَمِّتُه : دتفعیل دباب څخه معنی د ترچي والا جواب ورکول.
يَنْصَحُ: د فتح دباب څخه معنی يې خير خواهي ده .
تشریح : يو مؤمن پر بل مؤمن باندي ۶ شرعي حقوق لري :

1. د قريبانو ، دوستانو او همسايگانو د مريض پوښتنه به کوي . په حديث شريف کي ذکر دي چا چي د مريض پوښتنه وکړه سهار يا ماښام اويا زره ملائکي دده دمغفرت دعاء کوي ، که سهار پوښتنه وکړي تر ماښامه دعاء ورته کوي او که ماښام پوښتنه وکړي نو تر سهاره پوري دعاء ورته کوي .
2. د يو مؤمن میلمستیا به قبلوي ، میلمستیا که دواده وي که د بل شي چي انسان ته عذر نه وي دا مسنون طريقه ده چي قبلوي به يې او بيله عذره نه قبلول په حديث شريف کي سخت منع راغلې ده ، البته که ده لره عذر وو نو بيا معاف دی .

که چيري د واده يا ميلمستيا په ځای کي غير شرعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونه وه لکه ساز، عکسونه ، فلمونه وغیره او دی خبر وي نو بیا به هغه ځای ته نه ورځي او که چیري دی ناخبره ورغلی وروسته معلومه سول چي دلته ناروا وي دي نو دغه ورتلونکی که عام سړی وي نو حکم دادی که یې دمنع طاقت پر شرعي طریقه درلودی منع به یې کوي که یې طاقت نوو نو د ډوډۍ تر وخته به کښېني او که په ډوډۍ کي هم دغه ناروا عمل وي نو بیا به ډوډۍ هم نه خوري .

او که چیري دغه ورتلونکی عالم وي نو دغه عالم لره د ډوډۍ تر وخته ناسته هم نه ده رواه یا به یې منع کوي او که یې نسو منع کولای نو بیا به ځي ، نن سبا اکثره ودونه پر دغه طریقه دي ډیر احتیاط پکار دی .[1]

3. سلام به ور اچوي ، ددې هم تفصل تیر سوی دی .

4. که یو مؤمن وترچي او الحمدلله ووایې نو پر اوریدونکي باندي واجب کفایې دي چي جواب به په یَرْحَمُكَ الله ورکوي تر درو ځلو پوري .

5. که چیري یو مؤمن مړ سي جنازې ته به ورځي داهم واجب کفایې دی .

---

[1] الفتاوی الهندیة ج ۵ صــ ۳۴۳. هدایة ج ۴ صــ ۴۵۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. يو مؤمن به دبل مؤمن خير غوښتونکی وي که هغه حاضر وي که غير حاضر ، کوم شی چي دځان لپاره خوښوي هغه به د بل مؤمن لپاره هم خوښوي، او کوم شی چي د ځان لپاره بد گنىي هغه به دبل مؤمن لپاره هم بد گنىي .[1]

د حضرت ابوهريرة ﷺ مختصر حالات :

نوم يې عمر، ابوهريرة يې کنيت دی . خانداني نوم يې عبدالشمس وو نبي کريم ﷺ يې نوم په عمر ور بدل کړ. د خيبر په کال مسلمان سو ، دنبي کريم ﷺ سره به هميشه ملگری وو ، وخت دملاقات يې کم مگر شوق د احاديثو يې ډير زيات وو. (۵۳۷۴) احاديث دده مبارك څخه نقل سوي دي

په سنه ۵۱ هـ کي د ۷۸ کالو په عمر يې وفات کړی دی، وليد دجنازې لمونځ ورکړی دی .

رضي الله عنهم اجمعين .

---

[1] مظاهر حق ج ۴ صـ ۳۰۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۱۱﴾ د یو مسلمان د بل مسلمان څخه تر درو ورځو زیات اړیکي شکول جواز نه لري :

﴿ لاَيَحِلُّ لِمُسْلِمٍ اَنْ يَّهْجُرَ اَخَاهُ فَوْقَ ثَلٰثٍ فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلٰثٍ فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ ﴾ [1]

ترجمه : هیڅ مسلمان لره دا جائز نه ده چي هغه د خپل مسلمان ورور سره تر درو ورځو زیات قطع تعلق وکړي که چا دغسي وکړه او پر همدغه خوابدتیا مړ سو نو هغه به جهنم ته داخل سي .

لغات : يَهْجُرُ: پرېښودل، قطع تعلق.

اَخٌ: ورور.

اَلنَّارُ: اور.

تشریح : شریعت مقدسه د انسان د طبیعت مراعت کړی دی چي په درې ورځي کي دانسان درد خلاصیږي او یا کمیږي . البته د یو دیني غرض په خاطر تر درو ورځو زیات خوابدیدل هم جواز لري مثلا یو سړی بې عقیدې وي یا بې دینه وي لیکن ددغه خوابدی په وخت کي به کناره کشي هم پر سمه طریقه وي یعني غیبت یاعیب جویې به یې نه

---

[1] عن ابي هريرة ﷺ ان رسول الله ﷺ قال : لايحل ...... الخ . مشكوة ج ۲ صـ ۴۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي ، او دغه خوابدتیا به د نفس په خواهش نه وي .

خرابي د قطع تعلق : یوه سزا خو په دغه حدیث کي ذکر ده چي امام توربشتي رح فرمایيږ چي دخول د اور يې پر ځان واجب کړی .[1]

په یو بل حدیث شریف کي راغلي دي : چي د دوشنبې او جمعې په ورځ دجنت دروازې خلاصي وي او په بل روایت کي راغلي دي چي په دغه ورځو کي پر ذات الهي ﷻ باندي اعمال پیشیږي نو ذات الهي ﷻ د هر مؤمن مغفرت کوي مگر دغسي دوه مؤمنان چي عداوت سره لري مغفرت يې نه کیږي .[2]

او په یو بل روایت کي ذکر دي چي د روژې اعمال يې هم معلقه پاته وي تر څو چي خوابدتیا د منیځه ولاړه نسي .

په یو حدیث شریف کي ذکر دي چي د دوو خوابدو په مینځ کي چي هر یوه اول سلام واچوی هغه شخص بهتره دی او که یوه دريږ ځله سلام واچوی مگر بل جواب ورنه کړی نو دخوابدتیا ټوله گناه پر جواب نه ورکونکی ده .[3]

---

[1] مرقات ج ۹ صـ ۲۳۸.

[2] مرقات ج ۹ صـ ۲۳۴.

[3] مرقات ج ۱ صـ ۲۳۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنبیه : که چیري یو شخص سره دطبعیت موافقت نلري نوتعلق دي ورسره کم کړي، داسي نه چي سلام ورسره بند کړي دا سخته گناه ده او همدا عمل زموږ په خلگو کي ډیر زیات سته . الله ﷻ دي ټولو مسلمانانو ته ددغه گناه څخه نجات ور په برخه کړي . آمین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۱۲﴾ رحم پر مؤمنانو باندي :

﴿ لَايَرْحَمُ اللّٰهُ مَنْ لَأيَرْحَمُ النَّاسُ[1] ﴾

ترجمه : الله ﷻ رحم نه کوي (کامل رحم) پر هغه چا باندي چي هغه پر خلگو باندي رحم نه کوي .

لغات : رَحِمَ : مهرباني کول، دباب سمع څخه دی .

تشریح :پر عامو مؤمنانو باندي به بل مؤمن شفقت، رحم او حسن ظن لري ، که چیري یو مؤمن په نارواه یا گناه اخته وي د اصلاح فکر به یې کوي په ښه اخلاقو سره به دغه گنهکار شخص د بدو څخه منع کوي لکه چي مخکي په حدیث نمبر ۶ کي ذکر سول، او همدارنگه به په پټه الله ﷻ ته دعاء کوي چي یا الهي ته هدایت ورنصیب کړه ، مقصد دا چي هیڅ یو مؤمن ته به په حقارت او سپك نظر نه گوري.

په یو بل حدیث مبارك كي ذكر دي : چي نبي کریم ﷺ فرمایي : یومؤمن به پر بل مؤمن ظلم نه کوي او نه به یې ذلیله کوي او نه به یې سپکوالی کوي ځکه چي تقوا دلته

---

[1] عن جریر بن عبد الله قال : قال رسول الله ﷺ لایرحم ..... الخ . مرقات ج ۹ ص ۱۶۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ،نبي كريم ﷺ زړه ته اشاره وكړه او دا اشاره يې درې ځله وكړه .[1]

لهذا لازمه ده چي څوك پر هر مؤمن شفقت ولري او دهر مؤمن عزت،قدر او احترام ولري د ايمانداری په خاطر .

زموږ ځيني خلگ د ځينو خلگو څخه دگناه په خاطر د هغه سپك والی كوي دا ښه كار نه دی بلكه د هغه د اصلاح كوښښ به كوي ، په سپك والی او بد ورلو سره نور هم دغه سړی د دين څخه متنفر كيږي .

❁❁❁

---

[1] مرقات ج ۹ صـ ۱۷۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۱۳﴾ پر ښځو باندي ترحم کول :

﴿ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ لاَيَفْرَكُ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً اِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلْقًا رَضِيَ مِنْهَاآخَرَ ﴾ [1]

ترجمه : نبي کريم ﷺ فرمايي : چي يو مؤمن نارينه دي د مؤمني ښځي سره بغض نه کوي که چيري دده په نظر ددغه ښځي يو عادت يا خصلت بد اوناخوښه وي نو يو بل خصلت به يې بيا ښه اوخوښ وي .

لغات : يَفْرَكُ : دباب سمع څخه معنى يې بغض ده.

كَرِهَ : دسمع دباب څخه ناخوښه .

تشريح :يعني خاوند لره مناسبه نه ده چي د خپل کور والا څخه نفرت وکړي ځکه چي دانسان ټول عادات نسي سميدلای که يې اخلاق بد وي خو ښه اخلاق هم لري .

د فرك لفظ د ميړه او ښځي تر مينځ نفرت ته ويل کيږي .

خلاصه دا چي پر ښو اخلاقو به دي نظر وي او پر بدو اخلاقو به صبر اوتحمل کوې .

په يو بل حديث مبارك کي ذکر دي چي نبي کريم ﷺ فرمايي

---

[1] مشکوة ج ۲ صـ ۲۸۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ښځه د پوهنتي د کاره هڅوکي څخه پيدا ده سيده کيږي نه ، که يې ته سيده کوې نو ماتيږي او ماتېدل دښځي طلاق دی .

نبي کريم ﷺ فرمايي : استوصوا بالنساء خيرا ، دښځو متعلق چي ما کوم دخير وصيت کړی دی (چي د دوئ سره ښه کوئ) هغه وصيت قبول کړئ ، يعني ظلم، بې ځايه وهل بدسلوکي وغيره مه ورسره کوئ .[1]

په يو بل حديث شريف کي ذکر دی چي په تاسو کي بهترين شخص هغه دی چي د خپل اهل (کوروالا ،کوچنيانو ،دوستانو ،خدمتگارانو) په حق کي بهترين وي .[2]

مگر زموږ پښتانه د الله ﷻ پر دغه کمزور مخلوق(ښځه) باندي څومره ډول ډول زيادتي او خيانتونه کوي يا په جوړه کي ښځي ورکوي يا يې خرڅوي وغيره .. دا ټوله اعمال دشريعت مقدسه او دنبي کريم ﷺ د طريقي څخه خلاف اعمال دی ، ددې نتيجه به په قبر اوحشر کي

---

[1] مشکوة ج ۲ صـ ۲۸۰.

[2] مشکوة ج ۲ صـ ۲۸۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومیږي . نور د ښځي او میړه تر مینځ حقوق زموږ په رساله (تحسین النکاح) کي ملاحظه کولای سئ .

البته چي دښځي سره به صبر اوتحمل کوي دا یوازي په کورني ژوند کښي دي که چیري ښځي د شریعت څخه خلاف ورزي کول مثلا بې ستري وغیره نو بیا به یې نه پریږدي بلکه پابندي به پر لګوئ .

الله ﷻ دي ټول مسلمانان ددغه مظلوم قوم دحق تلفۍ څخه وساتي . آمین .

❁❁❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۱۴﴾ د نکاح فضیلت :

﴿ اِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ فَقَدْ اِسْتَكْمَلَ نِصْفَ الدِّيْنِ فَلْيَتَّقِ اللهَ فِيْ نِصْفِ الْبَاقِيْ﴾ [1]

ترجمه : کوم بنده چي نکاح وکړي نو هغه نیم دین پوره کړی ، ده لره پکار ده چي دپاته نیم دین په باره کي دحق تعالی ﷻ څخه وبیریږي .

لغات : تَزَوَّجَ: دباب تَفَعّل څخه، معنی یو ځای کیدل مگر دلته دنکاح په معنی دی. اِسْتَكْمَل : باب استفعال پوره کیدل. نِصْفُ: نیم . اَلدِّيْن : په لغت کي لار او روش ته وایي ، او په اصطلاح کي اصولي احکامو ته وایي چي جزئیاتي پر بناء وي او هم دغه ته ملت وایي د کلیاتو،جزیاتو یا اصولو فروع مجموعي ته شریعت وایي .

تشریح : په انسان کي دوه داسي خواهشات سته چي دا احتمال سته چي په ټوله دین کي دفساد سبب وگرځي :

(۱) د نس خواهشات چي همیشه د ښه خوړو فکر کوي .

(۲) شهواني خواهشات چي همیشه په دې فکر کي وي چي هر ځای یو ښائسته ښځه وي باید دده په نکاح کي وي ، د نکاح

---

[1] عن انس قال قال رسول الله ﷺ اذا تزوج ..... الخ . مشکوة ج ۲ ص

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ذریعه سره یې شهواني شوق پوره کېږي، لهذا د نصف دین حفاظت خو وسو او دباقي نیمایي دین تکمله به په عباداتو، ښه افعالو او ښه اعمالو سره پوره کېږي.

(۲) د حلال رزق طلب به کوي چې دا بنسټ د عباداتو دی.

نکاح په شریعت مقدسه کې یو لوړ سنت عمل دی، کله نکاح فرض وي، کله واجب وي، کله سنت وي، کله مکروه وي او کله حرام ګرځي، تفصیل یې زموږ په رساله (تحسین النکاح) کې ملاحظه کړئ.

البته نکاح د نصف ایمان یا نصف دین مرتبه لري انسان پاکدامنه کوي، په احادیثو مقدسوو کې ډیر فضائل ذکر دي او دا طریقه مسنونه دانبیاء کرامو علیهم السلام ده، او همدارنګه یو لوی انعام دی ډیري فائدې پکښې دي، مګر ځیني خلګ لوی خیانت کوي ښځې یې کښېنولي وي په نکاح یې نه ورکوي او سپین سري سي، د یو غلط غرض په خاطر چې یا میراث راځخه یونسي یا یې غټ ولور مقصد وي یا وایې چې زما سیال نه راپیداکیږي نو دی به د آخرت په ورځ د الله ﷻ په حضور کې ددغه خیانت جواب ورکوي او دا دیو انسان سره لوی خیانت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۱۵﴾ ږیره پرېښودل :

﴿ خَالِفُوْا الْمُشْرِكِيْنَ اَوْفِرُوْا اللِّحٰى وَاَحْفُوْا الشَّوَارِبَ [1] ﴾

ترجمه : د مشرکینو څخه مخالفت وکړی: ږیره اوږدوی او بریتونه پرې کوی .

لغات : اَوْفَرْ : د باب ضرب څخه معنی زیاتول .

اَللّحیٰ: جمع د اَللِحْيَة په معنی د ږیره .

اَحْفَوْا : د بریتو په پرې کولو کې مبالغه کول .

تشریح : د مشرکینو دا عادت وو چې ږیره یې خریله او دمجوسیانو دا عادت وو چې ږیره یې تر موټ کوچنۍ کوله، او بریتونه یې اوږدول ، شریعت مقدسه د هغه بر خلاف حکم کړی دی چې ږیره اوږدوئ او بریتونه کوچني کوئ.

علماء کرام فرمایې: چې په دغه حدیث سره ثابته سول چې د کفارو د خصوصي عاداتو څخه به مخالفت کوی مشابهت به په عاداتو کې نه ورسره کوئ ، اوبل دا چې ږیره واجب ده او د واجب پرېښودل گناه کبیره ده ، لهذا ږیره خرول یا تر مټ کمول حرام کار دی .

---

[1] عن ابن عمر ﷺ قال قال رسول الله ﷺ خالفوا .... الخ مشکوة ج ۲ صـ ۳۸۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ دا عادت وو چي تر مټ زياته ږيره يې پرې کول ، اوپه ترمذي شريف کي ذکر دي چي نبي کريم ﷺ هم تر مټ زياته ږيره دشاوخوا د اطرافو څخه پرې کول .

ږيره پريښودل د يو لك څليرويشت زره انبياء کرام عليهم السلام عادت اوسنت دی ټوله صحابه کرامو رضوان الله تعالی عليهم اجمعين ږيري درلودي ، او دڅلورو امامانو (امام اعظم،امام شافعي، امام مالك، امام احمدبن محمد بن حنبل رحمة الله عليهم اجمعين) په نزد يو موټ ږيره پريښودل واجب ده .[1]

نو د داسي يو ټينګ سنت څخه مخالفت کول لويه بد بختي ده ، زموږ په هيواد کي اوس دا مصيبت ډير عام سوی دی د ځوانانو څخه علاوه سپين ږيري هم په دغه مصيبت اخته دی ، الله ﷻ دي ټول مسلمانان ددغه مصيبت څخه خلاص کړي . آمين .

---

[1] د احنافو کتابونه : فيض الباري ج ۴ صـ ۳۸۰، بذل المجهود ج ۱ صـ ۳۳، اشعة المعات ج ۱ صـ ۱۳۰،او داسي نور . د امام مالك کتاب الابداع في منار الابتداع، دامام شافعي کتاب : کتاب الام . دامام احمد بن محمدبن حنبل کتاب شرح المنتهي. جواهر الفقه ج ۲ صـ ۴۲۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۱۶﴾ د حلال رزق کوښښ کول :

﴿ لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ جَسَدَ غُذِّىَ بِالْحَرَامِ [1] ﴾

ترجمه : هغه بدن به وجنت ته داخل نسي چي دهغه پرورش په حرام (مال) سره سوی وي .

لغات : غُذِّيَ : د نصر دباب څخه، په معنی د خوراك ورکول . جَسَدَ: بدن انساني او جمع يې اَجْسَادْ دی .

تشريح :د حديث شريف مطلب دادی چي كه يو شخص حرام مال وخوري او هغه مؤمن وي د جنت و هغه لوړ مقاماتو ته نسي داخليدلای ، او كه حرام مال حلال وبولي نو بالكل جنت ته نسي تللای ، يا دا چي حرام خوره مؤمن جنت ته نسي داخليدلای تر څو چي د حرام مال د خوړلو سزا ونه څكي . فقهاء كرام فرمايي : كه چاته دا معلومه سي چي ددغه شخص مال اكثره حرام دی نو ددغه شخص ميلمستيا دي نه قبلوي، كله بيا داسي وي چي مال خو نه دی حرام ليكن ميلمستيا يا واده داسي وي چي د ډوډۍ پر وخت عكاسي كوي يا سرود وي نو دغه ډول ډوډۍ به هم نه خوري او دغسي واده يا ميلمستيا ته به بالكل څوك نه ځي . پوره تفصيل په هداية جلد ۴ كي موجود

---

[1] عن ابي بكر ﷺ ان رسول الله ﷺ قال : لايدخل ...... الخ . مشكوة ج ۱ صـ ۲۴۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. او په حدیث نمبر ۱۰ کي تیر سو .

مسئله : که چیري حرام شی وخوري بیا وروسته خبر سي نو قی کوي به یې ، حضرت ابوبکر صدیق ﷺ یو ځل دغسي قی وواهه چي ده مبارك ته معلومه سول چي دا مال حرام دی .[1]

مسئله : که چا حرام مال خوړلی وي نو ددې کفاره څه ده ؟

د زړه په اخلاص سره به توبه او استغفار کوي او الله پاك ﷻ ته به زاري او دعاء کوي چي معاف کړل سي .

مسئله : که دیو چا سره حرام مال وو دغه حرام مال به بیله د ثواب دنیته پر مسکینانو باندي خیراتوي .

مسئله : کوم سړی چي کاروبار کوي د خپل کاروبار معلومات به کوي چي په شریعت مقدسه کښې دا زما کاروبار جواز لري کنه، دامعلومات پر ده باندي فرض دی.

د عباداتو د قبلیدو بنیاد پر حلال رزق باندي دی ، په یوه روایت کي حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نقل کوي چي دهغه چا لمونځ نه قبلیږي چي دده نس په حرامو سره ډك وي ، همدارنګه دعاء یې هم نه قبلیږي .[2]

---

[1] احیاء العلوم ج ۲ صـ ۱۲۸.

[2] احیاء العلوم ج ۲صـ ۱۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۱۷﴾ سلام اچول :

﴿ اَلْبَادِيُ بِالسَّلاَمِ بَرِئٌ مِّنَ الْكِبْرِ﴾ [1]

ترجمه : اول سلام اچونکی د تکبر څخه خلاص دی .

لغات : اَلْبَادِي : اول کونکی ،

بَدَاَ د فتح د باب څخه دی معنی يې شروع کول دي .

بَرِئ : د فتح، سمع اوکرم دباب څخه معنی يې نجات حاصلول .

اَلْكِبْرُ : غرور، د کرم دباب څخه په مرتبه کي لوړوالی ، دنصر اوسمع دباب څخه : په عمر کښې لوړ والی .

تشريح : کله چي دوه مسلمانان په یوه حالت یا دواړه سواره وي یا دواړه پر پښو وي چي سره مخامخ سي هر یوه چي اول سلام اداء کړی نو هغه دتکبر څخه لیري دی ، یا الله ﷻ دده د زړه څخه تکبر باسي ددغه عمل په وجه .

د تکبر تعريف : تکبر دې ته وايي : چي مقابل خلګ سپك و بولي او ځان دکمالاتو خاوند وبولي او نور دکمالاتو خاوند ونه بولي، او نورو ته سلام ادا کول د ځان توهين بولي . تکبر ډيره سخته ګناه ده په قرآن کريم او احاديثو

مقدسوو کي يې ډير بدوالی راغلی دی .

---

[1] عن عبد الله ان النبي ﷺ قال : البادي ...... الخ . مشکوة ج ۲ صـ ۴۰۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلام احکام :سلام اداء کول سنت کفايې دی او جواب يې واجب کفايې دی .[1] يعني په يوه ټولۍ کې که يو نفر سلام اداء کړي نو سنت اداء سول او که چيري يو سړی يوې ټولۍ ته دمسلمانانو سلام ادا کړي او په هغو کي هم يو سړی جواب ورکړي نو دټولي ټولۍ غاړي د واجب څخه خلاصي سوې .

نبي کريم ﷺ ډير تاکيد کړی دی چي سلام عام کړئ څکه دا دمسلمانانو په مينځ کي دالفت او محبت سبب گرځي .

که دوه نفره سره يو ځای سول نو اول به څوك سلام ادا کوي؟ لوړ سړی به وکښته ته سلام اداء کوي مثلا تيريدونکي سړی و ولاړ يا ناست سړي ته، کشر و مشرته ،او که مشر يې کشر ته اداء کړي هم صحيح ده دنبي کريم ﷺ څخه داعمل ثابت دی ، يو سړی چي پر دابه (سواري) سپور وي هغه به و پياده ته سلام ا داء کوي او که دواړه پياده وه نو حکم يې پورته ذکر سو .

سلام چونکه يو دعاء ده نو ځکه کافر ته به سلام نه اداء کوي ځکه چي کافر لره دعاء نسته بلکه د ضرورت په وخت کي به نور الفاظ استعمالوي .

او همدارنگه سلام او جواب دواړه به په خوله اداء کوي نه په لاس يا په گوتو باندي، ځکه دا ديهودو او نصاراوو عادت و

---

[1] مرقات ج ٨ صـ ٤٢٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library

و. البته که یو څوك ليري وي نو سلام خو به په خوله اداء کوي او په لاس که اشاره وکړي چي ما سلام اداء کړي نو بیا پرواه نلري ، او همدارنګه جواب د سلام هم په خوله واجب دی په لاس کفایت نه کوي .

سلام اچول په شروع دمجلس او په آخر دمجلس کي اچول پکار دي .[1] السلام علیکم ورحمة الله ویل افضله دي ، سلام علیکم هم صحیح دی مګر افضله هغه لوړ دی .

په بعضو ځایو کي به سلام نه اچوي :

۱: په مسجد کي به سلام نه اچوي ځکه چي خلګ په عبادت مشغول وي .

۲ : په مجلس کي دتدریس به سلام نه اچوي .

۳:په مجلس کي دذکر به سلام نه اچوي .

۴: په غسل خانه او اوداسه په ځای کي او داسي نور دغسي نامناسبه ځایو کي به سلام نه اچوي . په دغه مذکوره صورتو کي که چا سلام واچاوه جواب يې نه دئ لازم .

مسئله : که نامحرمي ښځي سلام واچاوه که ځوانه ښځه وه جواب به نه ورکوي که سپین سري وه بیا به په زوره جواب ورکوي .(1)

---

[1] مرقات ج ۸ صـ ۴۵۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۱۸﴾ غیبت سخته ګناه ده :

﴿ اَلْغَيْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا [2] ﴾

ترجمه : غیبت کول تر زنا ډیر سخت دی .

لغات : اشد : د ضرب دباب څخه معنی یې سختیدل .

تعریف دغیبت : غیبت و دې ته وایې چي د یو شخص په عدم موجودګي کي دده متعلق یو داسي خبره وکړې که چیري دغه شخص دا خبره واوري نو خوا یې بدیږي که چیري داعیب په دغه شخص کي وي، او که چیري داعیب په دغه شخص کي نه وي نو دې ته بهتان ویل کیږي .

تشریح : په مذکوره حدیث شریف کي غیبت تر زنا بد بلل سوی دی، وجوهات د بدوالي یې علماء کرامو ذکر کړي دي : (۱) زنا هر چا ته معلومه ده چي ما یو غټه ګناه وکړه نو توبه ځیني کاږي مګر غیبت کونکی دا ګناه سپکه بولي.
(۲) غیبت کونکی غیبت ګناه نه بولي (۳) دغیبت کونکي ګناه نه معافیږي تر څو چي هغه سړی یې معاف نه کړي که چیري هغه سړی خبر سوی وو. ددغه درو وجوهاتو پر بنیاد

---

1 : فتاوی هندیه ج : ۵ ص : ۳۲۵

2 عن ابي سعید و جابر قالا : قال رسول الله ﷺ الغیبة .... الخ . مشکوة ج ۲ ص۴۱۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

غالبا نبي کريم ﷺ تر زنا بده بللې ده که څه هم زنا په خپله يو لويه او عظيمه ګناه ده .

شپږ ځايه غيبت جواز لري :

1. که يو چا ظلم درباندي کړی وي ددغه ظلم بيان و قاضي، حاکم وغيره ته کول جواز لري .
2. که يو شخص غلط کار کوي ته وداسي شخص ته دا بيان وکړې چي هغه يې اصلاح کولای سي لکه دکور مشر ،عالم،مقتدا وغيره ، مقصد دي تغير دمنکر وي
3. د مفتي څخه دسوال په وخت حقيقت د مخالف شخص بيانول دا هم جواز لري . که مفتي ته دنامعلوم شخص په نامه ياد سي نو ښه کار دی .
4. يو شرير شخص وي خلګ خبرداره کوي چي دده دشر څخه وساتل سي لکه طالب دعلم يا طالب د رضا مندی الهي ﷻ لپاره چي وي و يو داسي شخص ته ځي چي هلته دده فائده نه وي يا ده ته دنيوي يا بل ضرر وي ، يا هغه سړی بدعمله وغيره وي . په شرط ددې چي مقصد به يې نصيحت وي نه بل شی .
5. يو شخص مشهوره وي په فسق يا بدعت سره نو ددغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخص حال بیانول جواز لري مگر هغه عیوب چي ظاهر وي لکه فسق ،غلا وغیره ...

6. که یو شخص مشهوره وي په یو لقب باندي مثلاً گوډ ، کوڼ .....او داسي نور . نو ددغه شخص په نه وجود کي په دغه نامه یادول پرواه نه لري په دې شرط چي پر طریقه دنقصان به نه وي مگر په بل نامه یادول افضل دي .

په دغه مذکوره شپږو ځایو کي غیبت پرواه نه لري .[1]

دغیبت دمجلس شخه ځان خلاصول :

که چیري په یو مجلس کي غیبت کیدی که یې قدرت درلودی نو په ښه اخلاقو سره دي یې منع کړي ، او که یې دمنع کولو قدرت نه درلودی نو دغه مجلس به پریږدي او که یې مجلس هم نسو پاته کولای نو غوږ به نه پر نسي بلکه خپل ذکر به کوي ، انشاء الله مسئول به نه وي .[2]

---

[1] ریاض الصالحین صـ ۴۶۴.

[2] ریاض الصالحین صـ ۶۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۱۹﴾ د ظلم څخه ځان ساتل :

﴿ اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ [1]

ترجمه : ظلم دقیامت په ورځ دتاریکیو په صورت کي وي.

لغات : اَلظَّلَمُ : جمع يې ظُلُمَات، دضرب د باب څخه معنی يې بې موقع ایښودل، د سمع دباب څخه دشپې تاریکه کیدل .

يَوْمُ : جمع يې ايام ده جمع الجمع يې اَيَاوِيْم ده .

اَلْقِيَامَةِ : د مرګه وروسته راپورته کیدل ، دنصر دباب څخه معنی يې دریدل .

تعریف ظلم : ظلم په لغت کي يو شی بې ځایه او بې موقع ایښودلو ته وايې او په عرف کي ورته تجاوز وايې ، په شریعت کي هم دغه معنی ده البته دشرعي محل تجاوز ته ظلم وايې . [2]

تشريح : د آخرت په ورځ ظالم داسي په تاریکیو کي راګیر وي چي هغه نور چي مؤمن ته ورکول کیږي ظالم ځیني محروم وي او مؤمن د هغه نور په ذریعه سره تګ کوي .

---

[1] عن ابن عمر ﷺ ان النبي ﷺ قال الظلم ...... الخ . مشکوة ج ۲ صـ ۴۳۴.

[2] مظاهر حق ج ۴ صـ ۵۹۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام د همدردۍ او ورورولۍ تعلیم ورکوي او ظلم دا دواړي مادي تباه کوي ، په حدیث قدسي کي ذکر دی : یا عبادي ... الخ . چي الله ﷻ فرمایي : اې زما بندګانو ما پر خپل ذات باندي ظلم حرام کړی دی نو ستاسو په مینځ کي هم ظلم حرام دی یو پر بل باندي ظلم مه کوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاصل : حضرت اما م رحمة الله تعالى عليه فرمايي چي اگاه او باخبره اوسئ چي :

(۱) د ټوله بني آدم نيك بختي او كاميابي په ذكر كي دمولاﷻ خپل ده .

(۲) تر څو چي ممكنه وي ټوله وخت بايد په ذكر كي مشغوله تير سي او يوه لحظه بايد غفلت ونكړي .

(۳) چي دوام ذكر په ابتدا د طريقې د حضراتو خواجگانو قدس اسراراهم سره كيږي .

(۴) نو اختيار ددغه طريقې عاليې طالب رضاحق لره ډير بهتره او مناسبه بلكه واجب ده .

د حضرت مولانا جلال الدين رومي رح رايه :

گر تو سنگ صخره مرمر شوي چون بصاحبدل رسي گوهر شوي

نار خنـــدان باغ راخندن كند　　صحبت مرادانت ازمـردان كند

همنيشين اهل معنى بـــاش　　هم عطايابي وهم بـــاشي فتا

بي عنايات حق وخاصان حق　　گر ملك باشد سياهشش ورق

وما علينا الا البلغ المبين .

۱۰\۱۰\۱۴۲۹ هـ ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

افضل دی ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چي ته د دنيا څخه په داسي حال کي رخصت سي چي ژبه دي الله ﷻ په ذکر سره لنده وي (يعني ذاکر يې) .

(۳) ذات الهي ﷻ د ملائکوو په مخ کي په ذاکرينو باندي فخر کوي .[1]

د ذکر متعلق د حضرت امام رباني شيخ احمد فاروقي رحمه الله مبارک وينا :

دانا واگاه باش که سعادت تو بلکه سعادت جميع بني آدم وفاح درستگاري همه در ذکر مولاء خود است جل سلطانه تاممکن باشد جميع اوقات را مستغرق ذکرالهي جل سلطانه بايد ساخت ويك لحظه تجويز غفلت نبايد کرد .

ولله سبحان الحمدوالمنة ، که دوام ذکر در طريقه حضرات خواجه گان قدس الله تعالى اسرارهم در ابتداء ميسر ميگردد... الخ .

پس اختيار اين طريقه عاليه من طالب را اولى وانسب باشد بلکه واجب ولازم ...الخ .2

---

[1] مرقات ج ۵ صـ ۵۵۵. ، ج ۵ صـ ۱۵۲ .

[2] مکتوبات ج ۱ صـ ۷۶ .حصه سوم .مثنوي ج ۱ صـ ۶۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدشفيع رح په معارف القرآن کي کړې ده او د اخلاق ذميمه په اخلاق حسنه اړول عموما په ذکر سره کيږي چي دکامل استاذ په تربيه کي وي او هم دغه خبره علامه عبدالوهاب شعراني په خپل کتاب ميزان اعتدال کي کړې ده څکه قاضي ثناء الله رح فرمايي : چي علم باطن اوتزکيه فرض ده طريقت واجب دئ . شاه ولي الله رح فرمايي : دهغه عالم څخه دصحبت څخه فرار وکه چي دباطن تزکيه يې نه وي کړې .

نو دهر چا څخه به ذکر نه اخلي بلکه استخاره به کوي يو کامل متشريع شيخ به پيدا کوي او ذکر به څيني زده کوي.

د ذکر فضائل :

(۱) په حديث شريف کي ذکر دي : تر ټولو خيراتو ،صدقاتو حتی ترجهاد ذکر (قلبي) افضل دی .

(۲) حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمايې : چي په جنت کي انسان پر هغه وخت باندي افسوس کوي کوم وخت چي يې په دنيا کي بې ذکره تير کړی وي .

(۳) په حديث شريف کي ذکر دي چي هر شي لره صفايې سته او صفايې د زړه په ذکر سره ده .

د ذاکر فضائل :

(۱) په حديث مذکوره کي ذکر سول چي حقيقة ذاکر ژوندی دی

(۲) يو چا دنبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي کوم عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذاکر په قبر، حشر او جنت کي خاص ژوند لري . علامه ابن قيم رح فرمايي : چي ذکر هغه دروازه ده چي د بنده او الله ﷻ تر ميان خلاصه ده يعني رضامندي الهي ﷻ په دغه ذکر سره ده ، شارحين فرمايي چي ذکر دوه قسمه دی : (۱) يادونه د الله ﷻ په ژبه سره لکه تسبيحات وغيره. (۲) يادونه د الله ﷻ په زړه سره ، او همدا افضل عمل دی ولي که زړه ژوندی سو حيات ابدي په پيدا کيږي[1] .

په معارف القرآن کي ذکر دي چي اصل ذکر کونکی زړه دی ژبه يې صرف ترجماني کوي .[2]

يواځي په ژبه سره ذکر کول هم ثواب لري او هم د شکر ځای دی مگر ډير اثر نه لري د زړه کمال نسي پيداکولای او دزړه صفايي نه راځي اخلاق يې نه سميږي . اخلاق حسنه ، قرب الهي ﷻ ، حيات ابدي د اتوله د زړه په ذکر سره حاصليږي چي ديو کامل استاد څخه زده سي .

مسئله : علامه ابن عابدين رح او نور فقهاء ذکر کړی دی چي د اخلاق ذميمه په اخلاق حسنه سره اړول فرض عين دی ،اوهم دغه خبره مولانا اشرف علي رح په البصائر کتاب کي او مفتي

---

[1] مظاهر حق ج ۲ صـ ۴۶۶.

[2] معارف القرآن ج ۱ صـ ۳۹۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۴۰﴾ د ذکر او ذاکر فضائل :

﴿ قَالَ رَسُوْل اللهِ ﷺ مَثَلُ الَّذِيْ يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِيْ لاَيَذْكُرُ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ ﴾ [1]

ترجمه : نبي کريم ﷺ فرمايي : کوم شخص چي د الله ﷻ ذکر کوي او کوم شخص چي دالله ﷻ ذکر نه کوي ، د دوئ دوارو مثال د ژوندي او مړه شخص په څير دی .

لغات : مَاتَ: د باب نصر څخه د مرگ په معنی .

الحي: د باب افعال څخه په معنی د ژوند .

تشريح : په دغه حديث مقدسه کي فضيلت د ذاکر بيان سوی دی علماء محدثين فرمايي چي په دغه حديث کي د زړو د کيفيت بيان دی چي زړونه دوه قسمه دی : ذاکر زړه ژوندی دی ، او غير ذاکر زړه مړ دی (که څه هم په خوله ذکر وکړي) لکه څرنگه چي ژوندی او مړ انسان فرق لري چي مړ نه ځان ته فائده رسولای سي نه غير ته که بې دفنه پاته سي بد بويې يې ځي همدارنگه غير ذاکر چي زړه يې مړ دی د ټولو نقصاناتو مرکز دی ، که څه هم ژوندی دی په حقيقت کي مړ دی ، او ذاکر که حقيقتا مړ سي په قبر کي ژوندی دی : بل احياء عند ربهم ،

---

[1] عن ابي موسى قال: قال رسول الله ﷺ مثل ...... الخ . مشکوة ج ۱صـ۱۹۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

غني وي هغه دا افلاس نه لري .

په يو حديث شريف کي ذکر دي چي يو صحابي دنبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه : اول يو داسي شى راوښيه چي دالله ﷻ او خلګو په نزد محبوب شم نو نبي کريم ﷺ و فرمايل چي ځان وساته د هغو شيانو څخه چي دخلګو په لاسو کي دي خلګ به خپله ستا سره محبت وکړي .

******

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښونکی يې يعني فکر به دي په لمانځه کي وي . دوهم مطلب يې دادی چي لمونځ بايد داسي وي چي لمونځ لره رخصت کونکی يې يعني لکه ستا د ژوند آخري لمونځ چي وي نو ددغه تصور سره بايد لمونځ په ښه خشوع اوعاجزۍ سره وسي او معلومه هم نه ده چي تر بل لمانځه پوري به ته ژوندی يې که نه . حضرت ملاعلي قاري رح فرمايي چي د ژوند آخري فرض ښه وکړه .

لاتکلم : مطلب داسي خبره يو مؤمن تر خولې نه راباسي چي د آخرت په ورځ بيا پښېماني کوي او عذر غواړي بلکه دلته پرهيز کوه .

بل مطلب يې دادی چي داسي خبره مه کوه چي سبا د خپلو دوستانو او رفيقانو څخه عذر غواړې بلکه ځان ځيني وساته .

واجمع الاياس : مطلب د اچي دهغه شيانو څخه نااميده سه کوم چي دخلګو په لاسو کي دي ، ستا په قسمت کي چي څه ليکلي وي درکول کيږي اميد هيڅ فائده نه لري ، دوهم مطلب دادی چي د نورو پر مال اوسامان باندي نظر درلودل د قلبي افلاس علامه ده د کومو خلګو زړونه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۳۹﴾ د نبي کريم ﷺ مهم وصيتونه :

﴿ ذَا قُمْتَ فِيْ صَلاَتِكَ فَصَلِّ صَلاَةً مُوَدِّعٍ وَلاَتُكَلِّمْ بِكَلاَمٍ تَعْذِرُ مِنْهُ غَدًا وَاَجْمِعِ الاَيَاسِ مِمَّا فِيْ اَيْدِي النَّاسِ﴾ [1]

ترجمه : (نبي کريم ﷺ په جواب کي دسائل و فرمايل) : کله چي ته دلمانځه لپاره ودرېږې نو داسي لمونځ وکړه لکه د دنيا څخه چي رخصت کونکی والا وي او ته د ژبې څخه داسي خبره مه راباسه چي سبا (ددغه خبري کولو په وجه) عذر غواړې ، او دهغه شي څخه نااميده سه چي دخلګو په لاسو کي دي .

لغات : وَدَعَ : رخصت کول ،پرېښودل، دخپلي زندګۍ څخه رخصت کېدل .

صَلٰوةِ مُوَدِّعٍ : د خپل ژوند اخري لمونځ . عَذَرْ : دباب ضرب څخه د الزام څخه بري کيدل .

الاياس : د باب سمع څخه په معنی د نااميده کيدل .

تشريح : صلوة مودع : مطلب دادی چي لمونځ بايد داسي وسي چي د الله ﷻ ماسوا ټوله مخلوق رخصت او

---

[1] عن ابي يوب الانصاري قال جاء رجل الى النبي ﷺ فقال : عظني و اوجز فقال .... الخ . مشکوة ج ۲ صـ ۴۴۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ذکر سول . څوك چي د دين خبره وکړي يا پر دين باندي عمل وکړي حمايت کونکی به يې نه پيداکيږي نو په دغه وخت کي سړی پر دين باندي ټينګ پاته سي په دغه حديث شريف کي د اور د سکروټو په لاس دنيولو سره تشبيه ورکړې ده لکه څنګه چي په لاس کي سکروټي نيول ګران کار دی همدارنګه په باطل ماحول کي دايمان او داعمالو حفاظت کول هم ډير ګران کار دی .

نو په دغسي وخت کي پر دين يا پر ديني عمل باندي (چي خلګ عمل نه پر کوي لکه ږيره وغيره) بر کرار پاته سي ، په حديث شريف کي ذکر دي چي داعمل مسنون دسلو شهيدانو ثواب لري (من تمسك بسني .... الخ) اوپه يو بل حديث شريف کي ذکر چي دغه شخص د پنځوسوو نفرو دعمل کولو ثواب ورکول کيږي . حق تعالی ﷻ دي ټولومسلمانانو ته پر اعمالو استقرار ورپه نصيب کړي.

******

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۲۰﴾ ځان ساتل د حسد، بغض، بدګماني وغیره څخه :

﴿ اِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَاِنَّ الظَّنَّ اَكْذَبُ الْحَدِيْثِ وَلاَتَحَسَّسُوْا وَلاَتَجَسَّسُوْا وَلاَتَنَاجَشُوْا وَلاَتَحَاسَدُوْا وَلاَتَبَاغَضُوْا وَلاَتَدَابَرُوْا، وَ كُوْنُوْا عِبَادَاللهِ اِخْوَانًا ﴾ [1]

ترجمه : د بد ګمانې څخه ځان وساتئ بیشکه بدګماني د خبرو بدترین درواغ دي، او نه به د خلګو پر پټو خبرو باندي ځان خبرداره کوئ که دخیر خبر وي که د شر(هغه خبري چي تا سوء ظن ته رسوي) یو تر بله ځان لوړ مه بولئ، یو تر بله به حسد نه کوئ ، یو تر بله به بغض نه کوئ، یو تربله به غیبت نه کوئ ، اې د حق تعالی جل وعلا بندګانو یو تر بله ورونه وګرځئ د ورورګلوۍ ژوند سره کوئ.

لغات : اَلظَّنّ : ګمان ته وايې، دیو شي متعلق که ستا داخیال وي چي دا کار سوی دی مثلا زید راغلی دی کنه که دې دنه راتګ خیال کم وي دې ته وهم وايې او که دي د راتګ خیال ډیر وي دې ته ظن وايې ، او که دواړه برابر

---

[1] عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اياكم ..... الخ مشكوة ج ۲ صـ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي هغه ته شك وايې كه دي خپله په سترګو وليدى دې ته يقين وايي .

وَلَاتَحَسَّوا: ځان په خير خبردار كول د باب تفعيل څخه دى . وَلاَ تَجَسَّسُوا: ځان خبر داره كول په شر باندي، دباب تفعيل څخه دى .

وَلاَتَنَاجَشُوا: د ځان لوړوالى په خلګو كي ، دنفرت په معنى هم دى .

تشريح : په دغه حديث مقدسه كي مؤمنان د هغه بدو باطني مريضيو څخه راګرځوي چي دمسلمانانو ورورګلوي او اتفاق ته سخت تاوان كوي .

(۱) ګمان : ګمان په شريعت مقدسه كي ۴قسمه دى :

(۱) حرام : چي ذالت الهي ﷻ پر ما باندي رحم نه كوي نه مي بخښي بلكه دا فرض دى چي مؤمن به وايې الله ﷻ پر ما رحم كوي . (۲) واجب : چي د يو سړي ظاهري حالت سم وي بيله دليل قوي بدګماني حرامه ده . (۳) مباح: چي سړي ته په درو او څلورو ركعاتو كي شك وي : اوغالب ګمان يې د څلورو ركعاتو وي نو پردغه عمل كول جائز او مباح دي ، البته كه پر يقين عمل وكړي چي درې ركعاته دي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

صحيح دي . (۴) مستحب : دهر مسلمان سره نيك گمان کول .[1]

(۲) تحسس او تجسس: د خلگو په هغو شيانو ځان خبرول چي خلگ يې پټوي مطلق طلب خبرداري ته تحسس وايې او پټ عيوب لټولو ته تجسس وايې .[2]

(۳) تحاسد: حسد يو باطني مرض دی، مطلب يې دادی چي يو سړی يو نعمت ولري ستا دا اراده وي چي دده څخه دغه نعمت زائل سي (دغه نعمت دي نه وي پر پيرزو) او ماته راکړل سي ، يا دمطلق زوال اراده لري دا نيت حرام دی او دې ته حسد وايې ، که د زوال اراده ونه لرې بلکه د ذات الهي ﷻ څخه دځان لپاره هم دغسي نعمت طلب کړې نو بيا پرواه نه کوي دې ته غبطه وايې ، حضرت مولانا رومي رح هم فرمايې : چي حسد يوه بده مريضي ده چي په توسط د اولياؤو پاتيږي .[3] بيت :

خاک شو مردان حق را زير پا خاک بر سرکن حسد را همچو ما

❁❁❁❁

---

[1] احكام القران ج ۲۷ صـ ۳۰۵ .

[2] معارف القرآن ج ۱۲۰، ۸ .

[3] مرقات ج ۹ صـ ۲۳۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۲۱﴾ د بخل بد والی :

﴿ خَصْلَتَانِ لاَتَجْتَمِعَانِ فِيْ مُؤْمِنٍ اَلْبُخْلُ وَ سُوْءُ الْخُلْقِ[1] ﴾

ترجمه : په مؤمن کي دوه (بد) عادته نسي يوځای کيدلای بخل او بد اخلاق .

لغات : تَجْتَمِعَانِ: باب افتعال په معنی د جمع کيدل. سوء اَلْخُلْقِ : د باب نصر څخه په معنی د پيداکيدل او اخلاقو ته وايې او دباب سمع څخه په معنی ريز ريز کيدل .

تشريح : دمذکور حديث شريف مطلب دادی چي په مؤمن کامل کي دا دوه عادتونه نسي يو ځای کيدلای ځکه چي دا دواړه (بخل، او بداخلاق) ډير لوی عيبونه او دډيرو بديو مغز دی، دا هر يو صفت چي په مؤمن کي وي دده ايمان وکمال ته نه پريږدي ، نو پر مؤمن باندي لازمه ده چي ددغه دواړو عيبو څخه ځان پاك وساتي .[2]

په يو حديث شريف کي ذکر دي چي بخيل سړی د ذات الهي ﷻ څخه، دخلگو څخه او دجنت څخه ليري دی ، او

---

[1] وعن ابي سعيد قال: قال رسول الله ﷺ خصلتان....... الخ . مشکوة ج ۱ صـ ۱۶۵.

[2] مظاهر حق ج ۲ صـ ۲۳۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالله ﷻ په نزد تر بخيل عابد جاهل سخي محبوب دی .[1]
بخل د دنيوي او ديني بدبختيو يو لوی سبب دی مثلاً زکوة، خيرات،صدقات، د دوستانو سره کومك،د کور او اولاد سره پراخي د ټولو څخه مانع دی . حق تعالی ﷻ دي ټول مسلمانان ددغه خبيث صفت څخه خلاص کړي .

---

[1] مرقات ج ۴ صـ ۳۲۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۲۲﴾ د دنيا محبت :

﴿ حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ ﴾ [1]

ترجمه : د دنيا محبت د هري خطا رېښه ده .

لغات : اَلدُّنْيَا: موجوده زندگي، دَنَا د نصر د باب څخه په معنی د نژدې کيدل. رَاْسُ : جمع يې رُؤُسْ ده او په معنی د سر ده .

خَطِيْئَةَ : د باب سمع څخه په معنی د خطا ده .

تشريح :په مذکوره حديث مقدسه کي ذکر دي چي محبت د دنيا بد دی . ١ ولي دمحبت په وجه باندي سړی ړوند اوکوڼ گرځي د حلالو او حرامو فرق نه کوي .٢ محبت د دنيا د الهي محبت مانع گرځي. ٣ بل دا چي د دنيا حب انسان د دنيا په غير ضروري کارو باندي اخته کوي چي ضرورت ورته نه وي حب د دنيا يا زياته مشغله به نه ورسره کوي ، انسان خو په اصل کي د عبادت او معرفت لپاره پيدا سوی دی او هم دغه اصل کار دی په يوه حديث مبارک کي ذکر دي چي د اللهﷻ د طرفه پر حضرت موسی عليه السلام باندي وحي راغلې چي ياموسی !عليه السلام د دنيا په محبـــت باندي به نه

---

[1] عن حذيفة قال سمعت رسول الله ﷺ يقول في خطبة : الخمرجماع الاثم والنساء حبائل الشيطان وحب الدنيا ...... الخ . مشکوة ج ۲ صـ ۴۴۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشغوله کيږي زما په بارگاه کي تر دي لويه گناه نسته .1

حضرت عبدالله بن مبارك رح فرمايي : چي د دنيا محبت او گناهونه د چا زړه ښکار کړی هغه زړه ته نيکي هيڅکله هم نه رسيږي .2

ملا علي قاري رح فرمايي چي ددغه حديث مبارك د مفهوم مخالف څخه دا معلوميږي چي د دنيا څخه بې رغبتي د ټولو نيکيو مغز دی .3

په يوه بل حديث شريف کي ذکر دي چي : (لعن عبدالدينار) لعنت کړه سوی دی پر هغه چا باندي چي دی غلام د مال وي ، يعني چي دمال په محبت گرفتار سي او د الله ﷻ د طاعت او عبادت څخه ليري والی گويا د مال غلامي ده.[4]

امام غزالي رحمه الله فرمايي چي : الله ﷻ کله دنيا پيداکړه نو شيطان مچ کړه او دا يې وويل چي څوك ستا سره محبت وکړي هغه په حقيقت کي زما غلام دی.[5]

داحاديثو څخه معلوميږي چي مال خو ښه دی مگر محبت او زياته مشغله يې بده ده .

---

[1] احياء العلوم ج ٢ صـ ٢٥٠.

[2] مکاشفة القلوب صـ ٢٤٠.

[3] مرقات ج ٩ صـ ٤٠٣.

[4] مشکوة ج ٢ صـ ٤٤.

[5] احياء العلوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۲۳﴾ د مسلمان خطا ایستل :

﴿ مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا ﴾ [1]

ترجمه : کوم څوك چي موږ لره خطا ایستل وکړي هغه زموږ (د جماعت) څخه نه دی .

لغات : غَشَّنَا : د نَصَرَ دباب څخه معنی يې خطاایستل ، خلاف مصلحت ښکاره کول .

تشریح : مسلمان ته تکلیف رسول حرام دی او داسي شخص د نبي کریم ﷺ د پیروانو څخه نسي کیدلای ، په حدیث شریف کي ذکر دي چي : کوم تاجر یا خرڅونکی چي امین او رښتیاګویه وي (خطاایستل نه کوي) د هغه حشر به د انبیاء کرام علیهم السلام او صدیقینو سره وي . [2]

په يو روایت کي ذکردي چي: الله ﷻ دي رحم وکړي پرهغه شخص باندي چي د رانیولو او خرڅولو په وخت کي نرمي کوي . [3]

فقهاء کرامو اصول ذکر کړي دي چي په کومه معامله کي چي د جنګ اوبدامنۍ توهم پیداکیږي شریعت مقدسه ددې معاملې ممانعت فرمایلی دی او هغه بیع بیع فاسد بولي .

---

[1] عن ابن عمر وابي هريرة عن النبي ﷺ قال : من حمل علينا السلاح فليس منا . رواه بخاري و زاد مسلم من غشنا ..... الخ . مشكوة ج ۲ ص ۳۰۵ .

[2] مشكوة .

[3] بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۲۴﴾ د جمعې دلمانځه پرېښودونکی منافق دی :

﴿ مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ كُتِبَ مُنَافِقًافِيْ كِتَابٍ لَايُمْحٰى وَلَايُبَدَّلُ ﴾ [1]

ترجمه : کوم چا چي بېله شرعي عذره د جمعې لمونځ پرېښودی نو په داسي کتاب کي منافق لیکل کیږي چي (لیکنه) یې نه خرابیږي او نه بدلیږي .

لغات : يَمْحٰى : دنصر،سمع دباب څخه معنی د خط خرابول.

يُبَدّلُ : د باب تفعیل څخه بدلو .

تشریح : د جمعې لمونځ فرض عین دی ، علامه ابن همام رح او علامه یحیی رح فرمايي چي دجمعې فرضیت په قرآن،حدیث او اجماع سره ثابت دی ځوك چي د جمعې د لمانځه څخه انکار وکړي هغه کافر دی ، او کوم سړی چي انکار نه کوي البته بېله شرعي عذره د جمعې لمونځ نه کوي نو په حدیث کي د هغه حکم ذکر دی .

جمعې ته ځکه جمعه وایي چي حضرت آدم ﷺ او حضرت حواء رضي الله عنها په دغه ورځ په مځکه کي سره یو ځای سوي دي ، یا په دې خاطر چي خلگ په دې ورځ په مسجد کي سره یو

---

[1] عن ابن عباس ان النبي ﷺ قال من ..... الخ . مشکوة ج ۱ صـ ۱۲۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای کیږي ، یا په دې خاطر چي د آخرت ورځ هم د جمعې په ورځ قائمیږي چي ټول مخلوق پکښې جمع کیږي .

مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ: چي یو عذر شرعي نه وي مثلا دیوظالم څخه بیره، سخت باران وغیره نو بیا دغه وعید دی کوم چي لوړ ذکر سو ، او دا خبره دحدیث چي منافق لیکل کیږي ډیره سخته خبره ده حق تعالی ﷻ دي ټول مسلمانان ددغه غلط عمل څخه وساتي .

فقهاء کرامو ذکر کړی دی چي دجمعې په سهار سفر کول مکروه دي ولي دجمعې دلمانځه د ضائع کیدو خطره وي په دې کي به سړی فهم کوي چي داسي ځای ولاړ نسي چي دجمعې لمونځ ځیني ضائع سي .

دجمعي دلمانځه متعلق ډېر احکام دي فقهآء کرامو ذکر کړي دي په د غه مختصره رساله کي گنجایش نسته چي ټول احکام پکښې بیان سي . البته یوه خبره ډېره مهمه ده : هغه داچي دجمعې دلمانځه لپاره چي کله اول اذان وسي خرڅېدل رانیول مکروه تحریمي دي لهذا مؤمنان به کار وبار او دوکانونه بندوي . که چا تر اذان وروسته کاروبار وکی نو هغه حلالي پیسې یې دکراهیت تحریمي په وجه مکروه سو حق جل وعلا دي مؤمنانو ته عقل ، هدایت ، او عمل ور په نصیب کي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۲۵﴾ د عکسو دفع کول :

﴿ اَنَّ النَّبِيُّ ﷺ لَمْ يَكُنْ يَتْرُكُ فِيْ بَيْتِهِ شَيْئًا فِيْهِ تَصَالِيْبُ اِلاَّ نَقَّضَهُ ﴾ [1]

ترجمه : بيشکه نبي کريم ﷺ په کور کښې داسي شی نه پريښودی چي پر هغه به عکس وو بلکه نبي عليه السلام به هغه ماتوی .

لغات : تَصَالِيْب : د صَلِيْب جمع ده دنصاراوو خاص شعار ته وايي ليکن مراد عکس دی ،

نَقَّضَهُ : باب نصر څخه ماتيدو ته وايي .

تشريح : په مذکوره حديث کښې ذکر دي چي نبي کريم ﷺ عکس نه پريښودی او په ډيرو احاديثو کي دعکس ډير قباحت (بدوالی) بيان سوی دی ، په يوه حديث شريف کي ذکر دي چي په کوم کور يا خونه کي عکس وي ملائکې د رحمت هغه کور ته نه داخليږي .

حکم : ملا علي قاري رح فرمايي: چي عکس سخت حرام دی او گناه کبيره ده که پر ټوکر وي ، پر ديوال وي ، پر

---

[1] عن عائشة رضي الله عنها ان النبي ﷺ ... الخ . مشکوة ج ۲ ص ۳۸۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاغذ وي ، اویا پر سکه وي که د ذي روح شي عکس وي او که یې مجسمه جوړه کړې وي دا ټوله سخت حرام دي ، البته د درختو ،باغ وغیره د غیر ذي روح شیانو عکسونه پروا نه لري [1]، دعکسو کاروبار یا دعکس اخستلو روپۍ هم حرامي دي .

په حدیث شریف کي ذکر دي چي ببشکه کوم خلګ ته چي دآخرت په ورځ سخت ترین عذاب ورکول کیږي په هغوئ کي عکس جوړونکی هم دئ .([2])

په ترمذي شریف کي ذکر دي چي نبي کریمﷺ فرمایي : چي دآخرت په ورځ به دجهنم داور څخه یوه اوږده غاړه راووزي دغه غاړي لره دوې سترګي وي اودوه غوږونه وي اوریدونکي اوژبه لري خبري کوي دا وایي : چي حق جل وعلا ماته وکالت راکړئ دي چي دغه درې نفره وجهنم ته داخل کم (تحفة الاحوذي کي وایي ډېر درسوائي عذاب دئ) یو دهغو څخه عکس جوړونکی دي .([3])

ډېر خلګ په دغه بېکاره ناروا اخته دي حق جل وعلا دي مسلمانانو ته عقل صحیح ور په نصیب کړي چي ددغه بېکاره ناروا او دآخرة درسوائي څخه ځان وساتي .

---

[1] مرقات ج ۸ صـ ۳۲۵ ، مظاهر حق ج ۴ صـ ۲۲۶ .

[2] : مسلم ۲ ۱ ۱ ۹ ۹ ۱

[3] : ترمذي ج : ۳ ص : ۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۲۶﴾ مرګ د هغه چا چې د جهاد تمنی یې هم نه وي کړې :

﴿ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلٰى شُعْبَةٍ مِّنْ نِفَاقٍ﴾ [1]

ترجمه : کوم څوك چې مړ سي په داسې حال کې چې نه یې په خپل ژوند کې جهاد کړی وي او نه یې په زړه کې دجهاد تمنا کړې وي ، نو هغه څوك پر قسم باندې د نفاق مړسوی دی .

لغات : مَاتَ : دباب نصر څخه مرګ ته وايي.

يَغْزُوْ: د باب نصر څخه جهاد ته وايي.

يُحَدِّثُ: د باب افعال څخه ایجاد ته وايي او د باب تفعیل څخه بیان کولو ته وايي .

تشریح : جهاد دمسلمانانو د سرلوړی،عزت او آزادۍ سبب دی په قرآن کریم او احادیثو کې دجهاد لوړ اهمیت او ډیر فضائل ذکر دي ، او همدارنګه په قرآن کریم او احادیثو کې ذکر دي چې جهاد تر آخري ورځې د دنیا جریان لري .
البته جهاد اقسام او شرائط لري فقهاء کرامو یې په سیرت په کتابو کې وضاحت کړی دی د ټولو شرائطو مراعت کول

---

[1] عن ابي هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ من مات .... الخ . مشكوة ج ۲ ص ۳۳۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر ضروري دي .

په مذكوره حديث مبارك كي هم يو قسم وعيد ذكر دي چي كوم سړی په ټوله ژوند كي نه جهاد وكړي كه په نفس سره وي كه په مال سره ، او نه يې په زړه كي دا تمنا كړې وي چي كاشكي زه مجاهد وايې ددې سړي مرگ لكه دمنافق سړي مرگ داسي دي ، ولي منافقين د جهاد څخه خلاص دي په دې وجه مشابهت ورسره لري .

ملاعلي قاري رح ذكر كړی دی چي ددې حديث شريف څخه دا مسئله ثابتيږي چي كه څوك دعبادت نيت وكړي او دعبادت ترمخه مړ سي نو دعبادت د پرېښودلو عذاب او گناه نسته .[1] او پر نيت باندي يې هم ثواب ستته .

---

[1] مرقات ج ۷ صـ ۲۸۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۲۷﴾ د درود شریف فضیلت :

﴿ مَنْ صَلّٰی عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا ﴾ [1]

ترجمه : که څوک پر ما باندې یو ځل درود شریف ووایه نو الله ﷻ به پر هغه شخص لس ځلي رحمت نازل کړي .

لغات : صَلّٰی : دباب ضرب څخه ،دعاء کول، لمونځ کول، برکت پر کول، ښه تعریف کول .

تشریح : د درود شریف برکات په احادیثو کي ډیر ذکر سوي دي ، په یوه حدیث شریف کي ذکر دي چي په یوه درود شریف ویلو باندي الله ﷻ پر دغه بنده باندي لس رحمته نازلوي او دلسو گناهو مغفرت یې کوي، او لس درجات یې لوړوي .[2]

په یو بل حدیث شریف کي ذکر دي چي دقیامت په ورځ زیات قریب و نبي کریم ﷺ ته هغه شخص دی چي زیات درود ویونکی وي .[3]

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي کوم سړی یو ځلي درود شریف ووایې الله تعالی ﷻ او ملائکي اویا

---

[1] عن ابي هريرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ من صلى ... الخ . مشكوة ج ۱ صـ ۸۶.

[2] مرقات ج ۳ صـ ۸.

[3] مرقات ج ۳ صـ ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

واره رحمت پر دغه شخص نازلوي، ليکن دا فضيلت محدثين فرمايې د جمعې په ورځ دی .

که چا دجمعې په ورځ د مازديگر دلمانځه وروسته دغه درود شريف ۸۰ ځله ووايه داتيا ۸۰ کالو دعبادت ثواب ورکول کيږي او داتيا کالو گناوي معافيږي :

(اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الاُمِيِّ وَاٰلِهٖ وَسَلِّمْ وَتَسْلِيْمًا)

حکم : (۱) يو ځل په ټول عمر کي درود شريف ويل واجب دي [1] .

(۲) که څوك دنبي کريم ﷺ نوم مبارك واوري نو درود شريف ور باندي ويل واجب دي [2] . (۳) که څو ځله نوم واوري نو يو وار درود شريف ويل واجب دي او نور ځله مستحب دی .

درود په سر او په پای کي ددعا ويل دمقبوليت ددعا لپاره شرط دئ په ترمذي شريف کي دحضرت عمر ﷺ څخه روايت نقل دئ : چي دعا دمځکي او اسمان تر مابين معلقه وي لوړه نه خيږي تر څو چي درود ونه وايي .

مسئله : بې اودسه درود شريف ويل جائز دي . داوداسه سره نور على نور دئ .

❀❀❀❀

---

[1] هدايه ج ۱ صـ ۳۰۱.

[2] البناية شرح هدايه ج ۲ صـ ۳۲۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۲۸﴾ د طالب العلم فضیلت :

﴿ مَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَطْلُبُ فِيْهِ عِلْمًا سَلَكَ اللّٰهُ بِهِ طَرِيْقًا مِنْ طُرُقِ الْجَنَّةِ وَاِنَّ الْمَلاَئِكَةَ لَتَضَعُ اَجْنِحَتِهَا رِضًى لِطَالِبِ الْعِلْمِ ﴾ [1]

ترجمه : کوم څوك چي يوه لار د علم دين دحاصلولو لپاره اختيار کړي نو الله تعالی ﷻ دا شخص د جنت پر لاري بيايي ، او ملائکي د طالب علم د رضامندۍ لپاره خپل وزرونه غوړوي .

لغات : سَلَكَ: د باب نصر څخه لاري ته ويل کيږي، او دافعال د باب څخه په معنی د داخليدو .

طُرُقْ : جمع دطَرِيْق ده په معنی دلار. اَجْنِحَتِهَا : جمع دجناح اومعنی يې وزر ده .

تشريح : فضيلت دطلب علم په قرآن کريم او احاديثو کي ډير ذکر سوی دی . په يوه حديث مبارك کي ذکر دي که څوك د علم د طلب په حال کي مړ سو نو شهيد بلل کيږي .

په بل حديث کي ذکر دي چي پر هر قدم باندي د يوه کال

---

[1] وعنه قال : قال رسول الله ﷺ من سلك ... الخ . مشکوة ج ۱ صـ ۳۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبادت ثواب ورکول کیږي او پر هر قدم باندي الله تعالی ﷻ یو ښار په جنت کي ورکوي سهار اوماښام یې مغفرت کیږي او ملائکي شاهدي ورکوي چي دا خلګ د جهنم داور څخه خلاص دي .[1]

طلب دا معنی نه چي ټوله ورځ به دیني سبق وایې بلکه یو لږ وخت چي دیني سبق وایې که حادیث وي که دقرآن کریم ترجمه او که دفقهي کتابونه وي ، مطلب دا چي باید سړی مشغوله وي چي ددغه فضائلو مستحق وګرځي .

په یو بل حدیث شریف کي ذکر دي چي په شپه کي دیني درس کول تر ټولي شپې تر عبادت افضل دي .[2]

الله تعالی ﷻ دي ټولو مسلمانانو ته د دیني علم مشغله ورنصیب کړي که څه هم لږ وخت وي . آمین.

❀❀❀

---

[1] تفسیر کبیر ج ۱ صـ ۱۹۷.
[2] مشکوة ج ۱ صـ ۳۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۲۹﴾ د جماعت دلمانځه فضيلت :

﴿ صَلاَةُ الْجُمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلاَةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ دَرَجَةً ﴾ [1]

ترجمه : د جماعت لمونځ تر يواځي لمانځه (په ثواب کي) اووه ويشت (۲۷) درجي زيات دی .

لغات : دَرَجَةٌ : جمع يې دَرَجَاتٌ ده او مرتبې ته وايي.

اَلْفَذُّ : يواځي جمع يې افذا ده .

تشريح : دجماعت لمونځ په قول د علامه ابن همام رح او علامه ابن عساکر رح واجب دی ، او دشعائر اسلام څخه دی . په يو حديث شريف کي ذکر دي چي څوك پاکي وکړي او مسجد ته روان سي پر هر قدم يې الله تعالی ﷻ يوه نيکي ورکوي او يوه يوه درجه يې لوړيږي او يوه يوه گناه يې معافيږي . [2]

حضرت عمر ﷺ يو سهار پوښتنه وکړه چي فلانکی سړی په لمانځه کي نوو نو خلگو وويل چي هغه ډير عبادت کوی شايد بيده سوی وي نو حضرت عمر ﷺ و فرمايل

---

[1] عن ابن عمر قال : قال رسول الله ﷺ صلاة الجماعة ... الخ . مشکوة ج ۱ صـ ۸۵ .

[2] مشکوة ج صـ ۹۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسهار لمونځ په جماعت تر ټوله شپې تر ولاړي (و عبادت ته) بهتر بولم .[1]

څوك چي دجماعت لمونځ نه كوي په يو حديث شريف كي ذكر دي چي نبي كريم ﷺ ددغسي خلكو دكورو د سوځولو اراده كړې وه .[2]

رئيس المفسرين حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه يو چا پوښتنه وكړه چي يو سړی ټوله شپه عبادت كوي د ورځې روژه نيسي ليكن دجماعت لمونځ نه كوي ، حضرت عباس رضي الله عنه وفرمايل چي دا شخص جهنمي دی .[3]

په يو بل حديث شريف كي ذكر دي : كه چا دسهار او ماخستن لمونځ په جماعت وكړی نو دټولي شپې دعبادت ثواب لري .[4]

دجماعت لمونځ پر قول د ابن همام رح واجب ذكر سو ، بېله عذره پرېښودل يې ګناه كبيره ده او د آخرت په ورځ پر دغه عمل عقاب سته .

---

[1] مشكوة صـ ٩٧.

[2] مشكوة صـ ٩٥.

[3] البناية ج ٣ صـ ٣٨٥.

[4] مشكوة صـ ٦٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۳۰﴾ د خیرات او صدقې فضیلت :

﴿ بَادِرُوْا بِالصَّدَقَةِ فَاِنَّ الْبَلاَءَ لاَيَتَخَطَّاهَا ﴾ [1]

ترجمه : د صدقې په ورکولو کي تلوار کوئ بېشکه مصیبت او بلا تر دغه صدقې نسي مخته کیدلای .

لغات : بَادِرُوْا : دباب مفاعله څخه تلوار کول.

يَتَخَطَّاهَا: د باب تفاعل څخه په معنی دتجاوز کول، تړل .

تشریح : یومالداره شخص چي صاحب نصاب وي زکوة پر فرض دی ، ددې څخه ماسوا زیات مال د الله ﷻ په لاره کښې خرڅولو ته صدقه وایې او په پښتو ژبه کي یې خیرات بولي ، ددغه صدقې فضائل او برکات په احادیثو کي ډیر زیات بیان سوي دي .

په یو حدیث شریف کي ذکر دي چي د خپلو مریضیو علاج په صدقه سره وکړئ ، په یو روایت کي ذکر دي چي صدقه اویا ۷۰ مریضۍ لیري کوي .

حاصل دا چي صدقه د ډیرو آفتو دلیري کولو لپاره ده .

په یوه حدیث شریف کي ذکر دي چي صدقه د الله ﷻ غضب وژني او بده مرگه انسان ساتي یعني دمرگ په وخت کي د

---

[1] عن علي قال : قال رسول الله ﷺ بادروا ..... الخ . مشکوة صـ ۱۶۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیطان په وسوسو نه اخته کیږي یا په داسي مرض نه اخته کیږي چي بې صبره وي او کفري الفاظ وايې بلکه دغه صدقه یې ساتي .[1]

په یو بل حدیث شریف کي ذکر دي چي سخي سړی الله ﷻ ته نږدې والی لري جنت ته نژدې وي وخلکو ته نژدې یعني محبوب وي حتی چي الله ﷻ ته جاهل سخي تر بخیل عابد محبوب وي .[2]

په یو حدیث شریف کي ذکر دي چي مال په صدقه نه لږیږي او هره ورځ سهار ملائکي دعاء کوي چي یا الله ﷻ خرڅونکي ته یې عوض ورکړې .

صدقه کول یو څو شرطونه لري : (۱) احسان به نه پر اچوي . (۲) ذلیله او خوار به یې نه بولي . (۳) پاك مال به وي . (۴) بښه نیت یعني دالله تعالی درضالپاره به یې ورکوي .

---

[1] التعلیق الفصیح .

[2] مشکوة صـ ۱۶۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۳۱﴾ د مسجد تعظیم :

﴿ اِذَا رَاَيْتُمُ الرَّجُلَ يَتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَ فَاشْهِدُوْا لَهُ بِالاِيْمَانِ﴾ [1]

ترجمه : کله چي تاسي يو سړی وويني چي دمسجد خيرخواهي (خدمت) کوي نو تاسي دهغه سړي دايمان شاهدي ورکړئ (يعني چي ته ايمانداره يې) . بيشکه الله ﷻ فرمايي : (انمايعمر مساجدمن امن بالله واليوم الاخر)

لغات : يَتَعَاهَدُوْا : حفاظت کولو ته وايي، او په باب دافتعال کي مبالغه ده يعني ښه حفاظت کول .

تشريح :ملاعلي قاري رح فرمايي چي د يتعاهد معنی داده چي که چا دمسجد خدمت يابنا کول نو تاسي يې دايمان شاهدي ورکړئ ځکه دا دده دايمان پر ښه والي باندي دلالت کوي او دا يو لويه خوشخبري ده .

په احاديثو او قرآن کريم کي د مساجدو د خدمت او جوړولو په باره کي ډير فضائل ذکر دي .

په يو حديث کي ذکر دي چي که چا د الله ﷻ لپـــاره مسجد

---

[1] وعن ابي سعيد الخدري قال قال رسول الله ﷺ اذا رايتم... الخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړ کړي يعني خپل نوم يې نه پر کښيښودی الله ﷻ به په جنت معظم کي کور ورکړي ، اشاره ده چي داسړی جنتي دی .

په يو بل حديث شريف کي ذکر دي چي د آخرت په ورځ به اووه کسه دعرش تر سايې لاندي ناست وي او په دغه ورځ بله سايه هم نسته ، يو هغه سړی دی چي دده زړه دمسجد سره تړلی وي چي د لمانځه وخت وي کنه دمسجد خدمت سوی دی کنه وغيره دغه فکر ورسره وي .

حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايې چي : نبي ﷺ په محلو کي د مسجدو دجوړولو حکم وکړی او دا چي مسجد پاکوئ او خوشبويه کوئ يې .

مسجد د مسلمانانو د عبادت کور دی پر هر مسلمان باندي د مسجد خدمت کول، صفايې کول او لمونځ پکښي کول لازم دي ليکن زموږ ځيني خلگ يوائې دلمانځه لپاره را ځي نور يې نه خدمت کوي نه يې جوړيده کوي او نه يې صفايې کوي . دا دايمان ضعف والی دی.

الله ﷻ دي ټولو مسلمانانو ته دمسجد خدمت ورنصيب کړي . آمين.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۳۲﴾ د قرانکریم فضیلت :

﴿ إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَ يَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ ﴾[1]

ترجمه : بیشکه الله تعالی ﷻ ددغه کتاب (قرآنکریم) په ذریعه څومره قومونه پورته کوي او هم ددغه مبارك کتاب په ذریعه څومره خلګ کښته کوي .

لغات : يَرْفَعُ : د باب فتح څخه په معنی دپورته کولو.

اَقْوَامًا : جمع دقوم په معنی دجماعت.

يَضَعُ : د باب فتح څخه په معنی دايښودل، ليکن دلته يې مطلب دمرتبې په اعتبار کښته کول دي .

تشريح : مطلب دحديث مقدس دادی چې که چا د قرآنکريم په احکامو ځان خبر کړئ او عمل يې دخپل استعداد په اندازه په وکړی نو الله تعالی ﷻ يې په دنيا ا و آخرت کي مرتبه او عزت پورته کوي.

په قرآنکريم کي نبي کريم ﷺ ته خطاب دی چي ته مؤمنانو ته وفرمايه چي د الله ﷻ په فضل (قرآنکريم) او رحمت (عمل په قرآنکريم) سره او هم په دغه دوو شيانو به مؤمن خوشحاله کيږي ، ځکه دغه (که دحروفو سموالي وي که

---

[1] و عن عمر بن الخطاب قال : قال رسول الله ﷺ ان الله ..... الخ . مشکوة .

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه هم يو حرف وي يا قرائت يا تلاوت وي) بهتره دي تر هغو شيانو چي تاسي جمع کړي دي .[1] يعني يو حرف دقرآن کريم زده کول تر دنيا او تر هغه ټولو شيانو چي په دنيا کي دي بهتره دي .

په حديث شريف کي ذکر دي چي د قرآن کريم دتلاوت په وخت کي الله تعالی ﷻ د هر حرف د ويلو په بدله کي لس نيکۍ ورکوي او په لمانځه کي پر هر حرف باندي پنځه ويشت نيکۍ ورکوي مگر چي پر صحيح طريقه يې زده کړي او بيا يې ووايي ، اول بايد اودس وکړي او بيا په گوښه ځای کي په کراره سره (که په لوړ اواز ويل بل چاته ضرر وي) په ښه غور او فکر سره به يې تلاوت کوي او که يې په معنی پوهيدی نو په معنی کي به يې غور اوفکر کوي .

د قرآنکريم حقوق :

اول: بايد د قرآن کريم حروف په ښه توگه په قرآئت سره هم خپله زده کړو او هم يې خپل اولاد ته ور زده کړو .

دوهم : بايد قرآن کريم په معنی زده کړل سي .

---

[1] سورة يونس آية نمبر ٥٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم : په قرآن کریم باندي باید عمل وکړل سي .

څلورم : قرآنکریم باید نورو مسلمانانو ته ورسول سي .

په پورتني څلورو کارو کښې چي په کوم کار اخته وي په قرآن کریم کي ذکر دی چي په دغه عمل به خوشحاله کیږي نور چي هر څومره مالداري لري په هغه به نه خوشحاله کیږي بلکه ستا فکر خام دی قرآن کریم یې درښيي چي دغه دخوشحالۍ شی دي په قبر او حشر کي به ددغه خوشحالۍ حال درته معلومیږي .

الله ﷻ دي ټولومسلمانانو ته د قرآنکریم سره محبت ورنصیب کړي او دقرآنکریم خدمت ،تلاوت اوعمل کولو توفیق دي ورنصیب کړي ځکه چي اصل شی عمل کول په قرآن کریم دی ، او هره ورځ دقرآنکریم تلاوت کول پکار دي او دتلاوت وروسته به دا دعاء کوي :

﴿ اَللّٰهُمَّ اجْعَلِ الْقُرْآنَ لَنَا فِي الدُّنْيَا قَرِيْنًا وَ فِي الْاٰخِرَةِ شَافِعًا وَ فِي الْقَبْرِ مُوْنِسًا وَ فِي الْقِيَامَةِ صَاحِبًا وَعَلَى الصِّرَاطِ نُوْرًا وَفِي الْجَنَّةِ رَفِيْقًا وَ مِنَ النَّارِ سِتْرًا ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۳۳﴾ د تقوا داره عالم فضیلت :

﴿ اَلاَ اِنَّ شَرَّ الشَّرِّ شِرَارُ الْعُلَمَاءِ وَ اِنَّ خَيْرَ الْخَيْرِ خِيَارُ الْعُلَمَاءِ ﴾

ترجمه : خبردار اوسئ بیشکه په بدو خلګو کي بدترین شخص بد عالم دی او په ښو خلګو کي ښه ترین دخلګو ښه (تقوا داره) عالم دی .

تشریح : دعلماء کرامو موجودیت د عوامو په مینځ کي یو نمونه د دین ده که دعالم اخلاق او عادات د شریعت مقدسه موافق وي نو دده اتباع والا به هم ټوله دشریعت مقدسه موافق وي ، او ښه لاره به ورښیي او دی به یې د اصلاح کوښښ کوي . په احادیثو مقدسوو کي دباعمله عالم ډیر فضائل ذکر دي (۱)چي دعالم باعمله لپاره د مځکي او آسمانو ټوله مخلوقات د الله ﷻ څخه مغفرت غواړي ، (۲)اوبیشکه فضیلت دعالم پر عابد باندي په داسي اندازه دی لکه فضیلت چي د سپوږمۍ پر ټولو ستورو باندي دی
(۳)په یو بل حدیث کي ذکر دي چي فضیلت دعالم رباني پر عامو خلګو باندي داسي دی لکه (نبي کریم ﷺ وفرمایل) زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

فضيلت په تاسو کي پر هغه کمه درجه والا مؤمن باندي دی .[1]

حضرت امام رباني رحمة الله علیه فرمايي چي د دغسي علماؤو د مشواني رنگ الله ﷻ د آخرت په ورځ د شهیدانو د وینو سره تلي او د دوئ تول به درونډ وي ، او خوب ددغه تقوا داره علماؤو عبادت دی . ددغسي عالم څخه باید څوك دین زده کړي ، احکام او مسائل ځیني و پوښتي او ددغه علماؤو وجود د ټوله عالم لپاره باعث خیر دی ددغسي علماؤو احترام او تعظیم پر ټولو مؤمنانو لازم دی .

ددې خلاف هغه علماء چي تقوا نلري حضرت امام رباني رح فرمايي چي هغه علماء چي دحب دنیا او حب منصب وعزت په بد نما داغ باندي داغ سوي وي که څه هم د دوئ څخه فائدې حاصلي سي مگر دا علم د دوئ په حق کي نافع نه دی .

نن سبا چي په دین کي کمزوري پیدا ده دا ټوله ددغه علماء سوء په وجه ده ځکه چي دوئ په هر نارواه کار کي شرکت کوي لکه عکسونه،فلمونه کتل یا اخیستل یا

---

[1] مشکوة ، کتاب علم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي نور اعمال ، خلگو ته بهانه پیداسي چي دغه عالم دی دغسي کوي یا خلگو ته غلطي مسائل وربنیي ، په احادیثو کي ددغه ډول علماؤو سخت رد راغلی دی چي دغه علماء فتنې په عوامو کي پیدا کوي او آخیر به دوئ پخپله په دغه فتنو کي واقع او هلاك سي .

ملا علي قاري رحمه الله فرمایې : جاهل لره دي یو وار هلاکت وي او دغسي عالم لره دي اووه واره هلاکت وي .[1]

او په حدیث شریف کي ذکر دي چي علماء ورثه د انبیاؤو دي لیکن حضرت امام رباني شیخ احمد فاروقي رح فرمائې چي علم دوه قسمه دي یو علم اسرار او بل علم احکام ، هغه شخص چي علم اسرار (تزکیه نفس) نه لري هغه وارث د نبي نه وي ځکه چي دنبي څخه دغه دواړه علمه په وراثت کي پاته دي البته دغه عالم ته عالم بالاحکام وایې فقط .[2]

حضرت ملا علي قاري رح فرمایې چي حضرت امام مالك رح فرمایې چي کوم عالم چي صوفي نه وي (تزکیه نفس نه لري) هغه فاسق دی .[3]

---

[1] مرقات ج ۱ صـ ۴۳۱.

[2] مکتوبات ج ۱ صـ ۲۲۸.

[3] مرقات ج ۱ صـ ۴۷۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۳۴﴾ د خلګو په خاطر د الله ﷻ نافرماني جائز نه ده:

﴿ لَاطَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ﴾ [1]

ترجمه : په داسي امورو کي دمخلوق تابعداري جائز نه ده چي د الله ﷻ نافرماني راځي .

لغات : طَاعَةَ : طوعا ، فرمانبرداري ته وايې .

تشريح : د خلګو په خاطر د الله ﷻ نافرماني کول جائز نه ده مطلب يې دادی چي که انسان حاکم وي که غير حاکم چي داسي حکم صادر کړي چي دالله ﷻ دحکم مخالفت راځي نو ددغسي شخص يا حاکم حکم نه منل کيږي .

مسئله : که يو سړی بل سړی په زور په نارواه باندي مبتلا کړي نو دغه مامور ګناه کار نه دی .

حاصل : دا چي په دغه حديث شريف کي يو قانون ذکر سو چي دالله ﷻ حکم غالب دی ، انسان دي دمخلوق د داسي امر چي دالله ﷻ نافرماني پکښي راځي هيڅکله فرمانبرداري نه کوي .

تاسو ته معلومه ده چي خلګ څومره يو تر بله مراعت کوي که څه د الله ﷻ دحکم مخالفت پکښي راځي .

---

[1] عن النواس بن سمعان قال : قال رسول الله ﷺ لاطاعة ....الخ . مشکوة صـ ۳۲۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت مولانا جلال الدين رومي رحمة الله عليه فرمايي

(بې وفا ئي دان وفا بارد حق ،
بر حقوق حق ندارد کسي سبق)

چي هغه شخص چي دنورو اتباع کوي په داسي امر کي چي د الله ﷻ نافرماني راځي دا دالله ﷻ سره بې وفايې ده .

الله ﷻ دي هر مسلمان ته په هر کار کي اول د شريعت مقدسه مراعت ور نصيب کړي .

لهذا دغير شرعي آمر مراعت به نه کوي او نه به يې اتباع کوي :

(۱) که دحاکم له طرفه وي اتبارع ناروا ده .

(۲)که دپلار د طرف و زوی ته داسي غير شرعي حکم وي اتباع به يې نه کوي .

(۳) که د زوی مطالبه د پلار څخه وي غير شرعي مراعت به يې نه کوي بلکه مطالبه د اولاد به نه مني بلکه پوهوي به يې چي په دې کي د الله ﷻ ناراضگي راځي .

(۴) همدارنګه يو انډيوال به دبل انډيوال غير شرعي مطالبه نه مني . حق تعالی جل وعلا دي مسلمانانو ته هدايت دطاعت ور په نصيب کي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۳۵﴾ ژوند یو لوی نعمت دی بې طاعاتو ضائع نسي :

﴿ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لِرَجُلٍ وَهُوَ يَعِظُهُ اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ : شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سُقْمِكَ، وَ غِنَائَكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَ فَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ ﴾ [1]

ترجمه : جناب نبي کريم ﷺ یو سړي ته د نصیحت په ډول وفرمایل : چي پنځه شیان تر پنځو شیانو دمخه غنیمت و ګڼه : ځواني ستا تر سپین ږیرتیا دمخه ، صحت ستا تر ناجوړی دمخه ، مالداري ستا تر فقر اوافلاس دمخه، فراغت ستا تر اشغال دمخه، او ژوند ستا د مرګ تر مخه .

لغات : اِغْتَنِمْ : د باب افتعال څخه غنیمت ګڼل ، دباب سمع څخه سبقت کول .

شَبَابُ: ځواني د باب ضرب څخه ځوانیدل .

هَرَم : دباب سمع څخه ډیر کمزوره کیدل .

سَقَمْ : د باب سمع څخه ناجوړه کیدل جمع یې سقام ده .

تشریح : صحت تر ناجوړې دمخه لوی نعمت دی ، علماء کرام فرمایې تر ایمان وروسته لوی نعمت صحت دی په ناجوړه بدن نه د دین کار کیږي نه ددنیا نو ددغه نعمت

---

[1] عن عمر بن میمون الاردي قال : قال رسول الله ﷺ لرجل ... الخ .مشکوة ج ۲ صـ۴۴۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکر دادی چي باید عبادت په وسي .
غناء د فقر ترمخه : دا هم لوی نعمت دی ټوله مالي عبادت لکه زکوة، خیرات، د دوستانو کومك ،حج، پردیني امورو خرڅ ... داټوله په مال کیږي ددې شکر دادی چي خرڅ کړل سي او دآخرت لپاره ذخیره سي داسي چي انسان فنا سي یا يې مال فنا سي او دقبر لپاره هیڅ ونه کړي .
ژوند د مرگ ترمخه : دا هم یو لوی نعمت دی ، ملا علي قاري رح فرمايي که چیري ناجوړې یا مسکیني وي مگر دی خو ذکر کولای سي دا یو آن پر دغه حال هم دالله ﷻ لوی نعمت دی .[1]
مفسرین فرمايي چي د آخرت په ورځ د انسانانو سترگي خلاصي سي مؤمنان هم حسرت کوي چي کاشکي موږ اعمال ډیر کړي واي ، او گنهکار مؤمنان وايي کاشکي موږ دداغسي عالي مقدس ذات جل جلاله نافرماني نه
واى کړې . البته مکمل اولیاء کرام ددغه حسرته خلاص وي .
الله ﷻ دي موږ اوتاسو ته د ژوند قدرداني رانصیب کړي.
عاقلات وايي : النعمة اذا فقدت عرفت : چي نعمت زائل سي بیا يې قدر معلومیږي . یعني په قبر کي بیا دژند قدرداني ورمعلومیږي .

---

[1] مرقات ج ۹ صـ ۳۷۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۳۶﴾ د نيوي عذابونه د مؤمن لپاره رحمت دي :

﴿ أُمَّتِيْ هٰذِهِ أُمَّةٌ مَرْحُوْمَةٌ لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابُهَا فِي الدُّنْيَا، اَلْفِتَنُ وَالزَّلَازِلُ وَالْقَتْلُ ﴾ [1]

ترجمه : زما دغه امت امت مرحومه دی (يعني رحمت پر دغه امت ډير دی په سبب دنبي ﷺ چي رحمة للعالمين دی) پر دغه امت باندي په آخرت کي عذاب نسته او په دنيا کي د دوئ عذاب فتني،زلزلې او ناحق قتلونه دی .

لغات : اَلْفِتَنْ : د فتنة جمعه ده مختلفي معناوي لري لکه: امتحان، گناه، عذاب، رسوايي، گمراه کول، گمراه کيدل، ناجوړي وغيره .

تشريح : دا چي په آخرت کي امت مرحومه لره عذاب نسته ددې څخه سخت عذاب يا دائمي عذاب مراد دی ځکه چي په ځينو احاديثو کي پر گناه کبيره باندي د عذاب ذکر دی. يعني چي په شريعت مقدسه باندي عمل ونکړي نو په دنيا کي په مختلفو آفاتو باندي اخته کيږي ددې لپاره چي گناه يې محوه سي او آخرت ته پاته نسي :من يعمل منکم سوء

---

[1] عن ابي موسى قال: قال رسول الله ﷺ امتي ..... الخ . مشکوة ج ۲ صـ ۴۶۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يجزيه ، آية هم پر دغه دلالت كوي ، يا يې گناه كبيره نه وي كړې نور گناه الله ﷻ په مختلفو آفاتو ورمحوه كوي په آخرت كي گناه كبيره والا اشخاصو لره عذاب سته .

حاصل دا چي په دنيا كي عذابونه او تكليفونه مؤمنانو لره رحمت دى كه گناهكار وي گناه يې محوه كيږي كه نيك وي مرتبه يې پورته كيږي ،په دنيوي تكاليفو باندي بايد مؤمن صبر وكړي او د ډيرو شكاياتو څخه چي خلگو ته يې كوي بايد ځان وساتي ، او دا تكاليف د الله تعالى ﷻ رحمت دي . البته دعاء كولاى سي : چي الله پاك ﷻ ته دعاء وكړي چي يا الله ﷻ هدايت راكړې د دنيا ،آخرت او دقبر د تكاليفو څخه مي خلاص كړې ځكه موږ عاجزه يو دصبر طاقت نه لرو هميشه به دغه دعاوي كوو .

حضرت مولانا رومي رح فرمايې : چي عذاب مومنين لره رحمت دئ

في المثل جورت اگر عريان شود
گر جهان گريان بود خندان شود .[1]

---

[1] مثنوي ج ۱ ص ۱۳۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۳۷﴾ د نیکو اعمالو و طرف ته وړاندي کیدل د ټولو بدبختیو څخه نجات دی :

﴿ بَادِرُوْا بِالاَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطْعِ اللَّيْلِ اَلْمُظْلِمِ ،يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَ يُمْسِيْ كَافِرًا، وَ يُمْسِيْ مُؤْمِنًا وَ يُصْبِحُ كَافِرًا، يَبِيْعُ دِيْنَهُ بِعَرِضِ الدُّنْيَا﴾ [1]

ترجمه : د اعمال صالحوو په کولو کي تلوار کوئ تر مخه ددې چي فتنې ظهور وکړي ‹داسي فتنې› لکه د تاریکي شپې د ټوټې په مثل ‹اثر يې دادی› انسان سهار د ایمان په حال کي راپورته کیږي او ماښام کافر وګرځي ، اوماښام مؤمن وي مګر سهار د کفر په حالت کي راپورته کیږي ‹او دغه رنګه› خلګ خپل دین د دنیا د لږ سامان په عوض کي خرڅوي .

لغات : بَادِرُوا : باب مفاعله یوتر بله سبقت کول .

قَطْع: مفرد يې قطعة دی ټوټې ته وايې . بِعَرَض : لږ سامان .

تشریح : جناب نبي کریم ﷺ په دغه حدیث مقدسه کي مسلمانانو ته فرمايلي دي چي تاسو داعمال صالحوو په

---

[1] وعن ابي هريرة قال : قال رسول الله ﷺ بادروا ..... الخ . مشکوة ج ۲ صـ ۴۶۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو کي تلوار کوئ ځکه که چيري فتنو ظهور وکړی داسي فتنې لکه د تورې شپې حصې يعني دغه فتنې تر تورې شپې لا زيات ظلمت لري د اصلاح او فساد درك يې نه معلوميږي ، نه سبب دجنګ نه سبب دخلاصوالي معلوميږي په دغسي وخت کي مسلمانان په مختلفو تکاليفو اوتشويشاتو کي وي نه عبادت پر ښه طريقه کولای سي نو دفع ددغه فتنو کولای سي ځکه چي دده داعمالو په وجه پيښه ده .

ملاعلي قاري رح فرمايې زيات قتلونه، يا ديني اختلافات واقع سي په مابين کي دمسلمانانو ، سهار به مؤمن وي ماښام به د بدو اعمالو يا بدو خبرو په وجه کافر وي ياماښام به مؤمن وي او سهار به کافر وي خپل مقدس او باعزته دين د دنيا لپاره خرڅوي ، نو تاسي بايد په دغه وخت کي د اعمال صالحوو طرفته سبقت وکړي دخبروڅخه دکفارو او بدو اعمالو څخه ځان وساتئ .

او دا ټوله حالت نن سبا واقع دی ،الله تعالی ﷻ مسلمانانو ته اولا هدايت او بيا حفاظت ورنصيب کړي . آمين

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿۳۸﴾ قیامت ته نژدې به پر دین عمل کولو والا داسې په تکلیف وي لکه د اور سکروټې چې یې په لاس کې وي :

﴿ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ يَأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ اَلصَّابِرُ فِيْهِمْ عَلٰى دِيْنِهِ كَالْقَابِضُ عَلَى الْجَمْرِ ﴾[1]

ترجمه : نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې پر خلګو باندې به داسې زمانه راسي چې (په دغه زمانه کې به) پر خپل دین باندې صبر کونکی (عمل کونکی) داسې وي لکه سکروټه د اور چې یې په لاس کې اخیستې وي (یعنې پر دین عمل کونکی مؤمن به په دغه اندازه په عذاب کې وي).

لغات : اَلْقَابِضُ: د باب ضرب څخه یوشی په لاس باندې نیول.

اَلْجَمَرُ: جمع د جمرة په معنی د سکروټې.

تشریح : ددې حدیث مقدسه مطلب دادی چې نبي کریم ﷺ فرمایي چې په آخره زمانه کې به ناروا وي داسې عامې سي چې خلګ به د دین څخه نفرت کوي د خلګو اعمال نه بلکه عقائد به هم خراب سي لکه مخکې حدیث شریف کې

---

[1] عن انس قال : قال رسول الله ﷺ یاتي ...... الخ . مشکوة ج ۲ صـ ۴۵۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو ما هم په
دعاوو کې یاد لري

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library